
مینه او وسواس
د لنډو کیسو ټولګه
لیکوال
علم ګل سحر

## د شپې نوم

ما هم خپلې نامينځلې څنې غوړې کړې او له نورو انډيوالانو سره د ډاډسن موټړ په سورلي د کابل پر لوري روان شوو، زموږ د کلي د عُشر پخواني امر جمرود چې موږ ټولو به امر صاحب باله، لا يوه مياشت دمخه د چا په خوله احوال رالېږلی و چې يو ځل يې ليدلو ته ورشو، خو دا څو ورځې هلته جګړې وې، معلومه ده چې جمرود هم ښه پکې بوخت و، موږ هم ډېره تلوسه لرله چې لاړ شو هم هغه ووينو او هم ځينې نور حکومتي چارواکي.

ځکه زموږ په منځ کې هم لانجې وې، لونګ او غلام د ولايت پر سر دعوه لرله، د لونګ سړو د ولايت ودانۍ نيولې وه او د غلام وسلوالو بيا فرقه نيولې وه، جمعه الدين لا په ټولو کېګ ښه و، چې په امنيه قوماندانۍ يې ځان قانع کړی و.

د لونګ او غلام د وسلوالو کسانو تر منځ جګړه ونښته څو ورځې يې يو بل ته مورچلونه نيولي وو او د يو بل سړي يې يرغمل نيولي وو، هر يوه غوښتل

چې والي شي، خو اخر زموږ د کليوال نياز محمد په خبره "ژاولې چخونيا شوې نه د تا شوې نه د ما شوې" يعنې سرور له پاسه مکتوب راوړ او ځان يې والي وټاکه. خو لا تر اوسه د لونګ وسلوالو هغه ولايت ته نه و ورپرېښی.
په لاره کېګ مو ښه تود مجلس جوړ کړی و، ځانونه مو داسې ښودل چې پخپلو منځو کېګ هېڅ اختلاف نه سره لرو، يوه وويل:
_ياره که جمرود اوس ووينې ولاکه يې و پېژنې، پهو داسې مزې شوي چې خبرې يې مه کوه، برګه دريشي يې اغوستې وي، ځمکې ته لا سم نه ګوري.
لاهوري ورغبږ کړ:
_هسې نه چې اوس موږ ونه پېژني.
روح الله وخندل.
_لېونی کېګږه مه، هغه اوس موږ او تاسې ته اړ دی، د چوکيو په سر ټول ورسره دښمنان شوي دي چې موږ د ځان ملګري نه کړي، په يوازې سر به څه کوي او بيا يې ما ته مخ راواړاوه:
_که څنګه ماليم صاحب؟
ما يوازې سر ورته وښوراوه، زه پخپلو سوچو کې غرق وم، ټولو ته مې ويلي وو، چې که خدای کول له هغې خوا به ولسوال راځم، خو ولسوالۍ ته معراج الدين هم سترګې پټې کړې وې او اوس هغه هم له موږ سره په دې سفر کېګ ملګری و.
معلومه نه وه، چې برد به زما وي که د هغه، ده هم ترڅنګ راته کتل، زړه يې نه غوښتل چې زه هم په لاره کېګ ورسره ملګری و اوسم، ما پخپل زړه کې پاچاهي جوړه کړې وه، ولسوال وم، خلک مې مبارکۍ ته راتلل، ما امرونه

کول.

په دې وخت کې د لارې په پاټک کې چا زموږ موټر ودراوه، وسلوال د موټر دروازه خلاصه کړه په غوسه یې وویل:

_راکوز شئ، مېلمانه یاست؟.

لونګ په بې اعتنایۍ ورته وویل:

_وایه څه وایې؟

_اسناد مو راکړئ.

لونګ جمعه الدین ته مخ ور واړاوه:

_کارټ دې راوړې دي؟

_هو دغه دی.

وسلوال کارټ په یوه بله خوا واړاوه، شونډې یې پرې ښوروليې بیا یې سر ترې راپورته کړ:

_په کارت مارت دې نه پوهېږم، دا ووایئ چې د چا نفر یاست؟

لونګ په غوږ کې څه ورته وویل. د وسلوال رنګ تور واوښت.

_ښه داسې؟

دوه نور وسلوال یې چې هلته ولاړ وو، هم را وغوښتل له موږ څخه یې وسلې واخیستلې او بیا یې په یوه کوټه کې بندیان کړو.

لږه شېبه وروسته هماغه وسلوال له یوه بل وسلوال سره راغی لونګ په غوسه ورته وویل:

_اخر د څه لپاره مو دلته کېښېنولي یو، تاسې کوم امر یا قوماندان لرئ که نه، چې زه خبري ورسره وکړم؟

وسلوال په بې تفاوتۍ وویل:
_دلته مور هر یو امر یو، پوه شوې که نه؟
بیا یې سم له لاسه ټول تلاشي کړو، پیسې او ساعتونه یې راځخه واخیستل، دروازه یې خلاصه پرېښوده، څو ګامه لاړ، بېرته را وګرځېده په موسکا یې وویل:
_اوس نو تلای شئ.
مور هم پټه خوله بهتره وبلله، څوړند سرونه راروان شوو، ټول پټه خوله وو، تر ډېره مو څه نه ویل.
خو دا چوپتیا جمعه الدین ماته کړه، تر اوږده اسوېلي وروسته یې وویل:
_په ګړۍ مې ډېره خوا بده ده رادیو ګړۍ وه رادیو .
روح الله په خندا وویل:
_مه خپه کېږه څه خپل ساعت خو دې نه و، په کومه لار چې راغلی و -په هغه لاړ.
دا نورو ته یې سترګه ووهله پسې زیاته کړه:
_کانه جامه دینه، زه او ته خو سره پوهېږو.
په کابل کې بیا جګړه پیل شوې وه، دوه شپې مو نورې هم د لارې په یوه سماوار کې تېرې کړې، په درېیمه ورځ جګړه د ښار بلې څنډې ته لاړه، مور هم د کابل پر لوري حرکت وکړ، غرمه مهال ښار ته ورسېدو، ښه و جمرود دفتر ته راغلی و.
جمرود رښتیا هم بدل شوی و، په څرخي څوکۍ کې به کله یوې خوا کله بلې خوا ته تاو شو، خدای شته چې له مور سره یې په چلند کې کوم بدلون نه و

راغلی له ټولو سره يې په غېږ روغبړ وکړ، د هر يوه يې ځان– ځان ته پوښتنه وکړه، موږ خپلې خپلمنځې ستونزې او لانجې يوه يوه ورته بيان کړه، ټولو ته يې غوږ نيولی و، زموږ له خبرو وروسته يې په بې تفاوتۍ سره وويل:
_ورک يې کړئ، په ولايت او ولسوالۍ پسې مه ګرځئ اوس زموږ له لاسه وتلي دي، هغه مو په وېش کې دا نورو ته ورکړي دي.
له دې خبرې سره مې زړه کش وښوييده که و که نه و ما خو ځان ولسوال بللی و خولې راباندې راماتې شوې، ژر ژر مې د څادر په پڅه پاکې کړې، د لونګ رنګ هم ژېړ غوندې شو، جمعه الدين هم سترګې ښکته واچولې، د خپلې څپلۍ په سګک لګيا شو، امر صاحب لکه چې زموږ په خپګان او وارخطايۍ پوه شوی وي.
تر لږې چوپتيا وروسته يې وويل:
_خو تاسې غم مه کوئ، په داسې ځايونو کې به مو مقرر کړم چې په يوه مياشت کې هر يو د شخصي والګا څښتنان شئ.
بيا يې لونګ ته مخ ور واړاوه:
_تا خو به سمدستي د يوې قطعګګې کومندان "قوماندان "کړم.
لونګ ورته وويل:
_څه ووايم، زه خو له والي توبه بل شی نه غواړم.
_لېونيه! په خدای، ډېر ښه ځای دی، ډګرجنرالي به هم درکړم.
_نه نه زه بايد والي شم والي. اوس مې کور ودانې مبارکي راکړې ده.
امر صاحب جمرود په بې حوصله ګۍ وويل:
_توبه لانت "لعنت" دې په شيطان وي، درته ومې ويل چې په وېش کې

ولایت د دې نورو په پچه ختلی دی، ډګرجنرال تر والي غټ وي، لونګ پر خپله خبره ټینګ و:

_نه نه یا باید والي شم، که بیا مې والي کوئ نه، نو ډګر جنرالي نه غواړم بیا برید جنرالي راکړه.

_ډګر جنرال خو تر برید جنرال غټ وي، چې بیا ته برید جنرالي غواړې، دا یې برید جنرال، پیریانو ته غزنی څه دی دا خو. . .

جمعه الدین یې په خبره کې ور ولوېده:

_بیا نو دا ډګرجنرالي ما ته راکړه.

چورت مه خرابوه، اسانه ده.

بیا یې ما ته مخ راواړاوه:

_ښه مالیم صاب ته څه شی غواړې؟

ما ورته وویل:

_ما خو ولسوالۍ ته ځان جوړ کړی، خو چې ته وایې هغه د بل چا په پچه ختلې ده، بیا نو ما ته هم کومه جنرالي منرالي راګوره.

جمرود له څوکۍ را پاڅېده په دفتر کې یې په قدم وهلو پیل وکړ زما مخې ته ودرېده:

ګوره مالیم صاب ته خو نام خدای هوښیار سړی یې، موږ کار د کار هل (اهل) ته سپارو، ته جنرالي څه کوې، خپل کار او مسلک ته دې لاړ شه.

بیا یې پسې زیاته کړه:

_شونډې دې ولې وځړېدې، خپه کېږه مه، بیرته دې اول صنف ته نه لېږم، په پانتون (پوهنتون) کې به دې د کوم پوهنځي معاون مقرر کړم، د ریاست لپاره

يې بل څوک په زوره راولېږه.
_نو زه به هلته څه وکړم؟
_وارخطا کېږه مه، علمي رتبه به هم درکړم، پوهنوال موهنوال به دې کړو، بیا په رئیس اسناد پیدا کړه که خدای کول په یوه میاشت کې به یې بستره په څټ کې ورکړم او تا به رئیس کړم.
بشیر په پوزخند سره وویل:
_دی غریب خو اول جومات ته سبق نه شي ویلای په پانتون کې به څه کوي.
_مه ګرځه، رئیس هم څه د تورې بنګړی نه دی، دی خو یې لا معاون دی.
امر صاحب جمرود هر یوه ته په مکروریانو کې د یوه یوه کور وعده هم ورکړه، زه پر حالاتو ډاډه نه وم، په سبا مې د خپلې مقررۍ مکتوب تر لاسه کړ، هسې نه چې بل څوک تر ما ړومبی شي. مخامخ پوهنتون ته لاړم، د دروازې د مخې پیره دار ودرولم:
_ای څه کوې خیر خو به وي چې داسې نېغ نېغ روان یې؟
ما خپل مکتوب ور وښود.
_دا دی مکتوب زه دلته ماوین (معاون) مقرر شوی یم.
_د چا په امر؟
_د جمرود په امر.
وسلوال له خندا سره په شا ولاړ:
_زوی دې مړ شه وایي پکه چا په ورا نه پرېښوده، دې د سرکجاوې غوښتې، هغه اوس دومره شو چې خلک مقرروي توبه، توبه.
ټوپکوال په زوره خندل، خو له خندا سره یې په ټنډه (تندي) کې ګونځې را

پیدا شوې په لږ څه لوړ غږ یې راته وویل:
_ځه ورک شه، رنګ دې د مامین (معاون) نه دی.
خو ما لا ټینګار کاوه په زاریو مې پیل وکړ، وېرېدم هسې نه چې اوس بل
څوک مکتوب راوړي او تر ما ړومبی څوکی ته ځان ورسوي، زما زاریو د
ټوپکوال زړه هم نرم کړ راته ویې ویل:
_ځه لاړ شه، د پوستې د قوماندان جنرال میرزا امر راوړه.
په قوماندان پسې یوې بلې خوا ته وګرځېدم، جنرالان ډېر و، خو جنرال میرزا
مې پکې پیدا نه کړ، د پوهنتون بلې څنډې ته پسې لاړم. دلته حالت بل ډول
و، وسلوالو په ویالو، او د ټولګیو په کړکیو او د ګلانو د وچو بوټو په منځ
کې مورچلونه نیولي وو، یوه نیم خو له شګو څخه د ډکو بوجیو شا ته ځان
پټ کړی و، څو ګامه لا نه وم تللی چې یوه راباندې غګړګ کړ:
_اهای چېرته ځې د شپې نوم لرې؟
_د شپې نوم؟ اوس خو ورځ ده.
بل ملګري یې له لیرې را غږ کړ:
_دې ته ورځ وایې؟ چې موږ په مورچلو کې پراته یو او دا نور په پستو
چوکیو نرم ګرم ناست دي؟
چې ما څه ونا ویل نو خپل ملګري ته وویل:
_ورشه شپه ورته وښیه.
زه ځای پر ځای ولاړ وم، نه پوهېدم څه ووایم له شا څخه د کلاشینکوف د
کنداغ وار راباندې وشو، سر راباندې وګرځېده سترګې مې تورې شوې خو
پر ځمکه ونه لوېدم لاس مې په دېوال تکیه کړ، ټوپکوال په غوسه وویل:

_څنګه اوس شپه ده که ورځ؟

_ش، ش، شپه.

خو هغه بل چې ځان یې قوماندان قوماندان کاوه، دا بل ته په قهر وویل:

_شپه دې ورته ونه ښودله. وایم په ورځ کې د اسمان ستوري پې ووینه پوه شوې کنه.

ټوپکوال دا ځل په ډېر قوت سره ټوپک پورته کړ، نور زه په ځان نه یم پوهېدلی.

اوس توره شپه ده، نه پوهېږم چېرته یم پر مخ مې لکه چې وینې وچې شوې وي چې لاس وروړم لکه په خټو چې کاګل شوی وي، نور نه پوهېږم ښخي تیاره ده داسي معلومېږي چې موږ په یوه لویه خونه کې بندیان یو، په دېوال د تختې په څېر څه شی په ګوتو راځي. کېدای شي د پوهنتون کوم ټولګی وي کېدای شي د هغه پوهنځي ټولګی وي چې زه یې مرستیال ټاکل شوی یم، څوک څه خبر دي کېدای شي زما دفتر وي، خو د زخمونو دردونه مې په دې باره کې نورو فکرونو ته نه پرېږدي راسره نور بندیان ډاډ راکوي وایي چې غم مه کوه ته بختور یې تنظیم لرې که امر یا قوماندان دې خبر شي حتماً به دې په تبادله کې په چا بدل کړي، ازاد به شې، افسوس زموږ په حال چې نه په اسمان ستوری لرو نه په ځمکه سیوری!!!

کابل

21/4/1373

# د قرباني غويی

هغه په دې لنډو ورځو کې زموږ سیمې ته راغلی و، تل به ارامه او چورتي ناست و او مخامخ به یې په ځیر ځیر کتل، له چا سره یې ډېرې خبرې نه کولې، په کور کې یوازې اوسېده. په دې دومره موده چا څوک ونه لیدل چې د ده کور ته دې راغلی وي، په شونډو یې چا موسکا نه وه لیدلې، موږ به تل هڅه کوله چې خوشحاله یې وساتو، د ده د خوشحالۍ لپاره به مو د ټوکو ټکالو مجلسونه جوړول چا به چې هر څومره په زړه پورې خبره او یا ټوکه وکړه چې موږ به له ډېرې خندا بېهوډې په لاس کې نیولي وو او خندا به مو ښایسته ډېر ځنډ وکړ ،خو هغه به نه خندل یوازې به یې وویل:

_هو دغسې ده.او یا یې ویل:

_رښتیا چې ښه ټوکه وه.

ان څو ځله خو زموږ د ده په خندولو شرط کښېښود خو دی نه یوازې چا په خندا رانه ووست بلکې خوشحاله مو هم ونه لید، معلم اکرم ورو، ورو ځان له خلکو ګوښه کاوه، د ورځې به هم ځان ته ګرځېده او یا به د کتابونو په مطالعه بوخت و، ما ته د ده علمي او پخې خبرې ډېرې په زړه پورې وې، کله کله به مازدیګر د ده کور ته ورتلم، کتابونه به مې امانت ورڅخه وړل او د مطالعه شویو کتابونو پوښتنې به ده راته حلولې، په هره برخه کې یې پوره معلومات لرل اوس نو هغه زما استاد و او زه به هر مازدیګر هغه ته ورتلم، یوه ورځ مې زړه وکړ پوښتنه مې ترې وکړه:

_استاده څنګه ژوند یوازې او بې اولاده سخت نه دی؟

_سخت نه چې دوزخ دی.

_نو استاده نه شې کېدای چې له دې یوازیتوب څخه ځان وژغورې.

_ولې نه شي کېدای، ډېر اسانه یوه د دار رسۍ او لږ څه جرئت په کار دی.
خپلې پوښتنې بېځایه راته ښکاره شوې، په خپلو پوښتنو پښېمانه شوم خو څه مې کړي وای، اوس خو مې پخپله شروع کړې وه، ومې ویل:
_نه استاده خدای دې نه کړې زما منظور دا نه و.
_ستا په منظور پوه شوم خو څو چې انسان، انسان شوی نه وي او انساني عاطفې کلکه کړې وي، همداسې د مرګ پر پوله ژوند یوازې ښه دی، نور مې ونه غوښتل چې په خپلو پوښتنو سره یې پر زخمونو مالګې ودوړوم په عمر کې یوازې او بې دوستانو او خپلوانو اوسېدل، د اولادونو نه درلودل تل خپه ارام او چورتي. . . او په لسګونو داسې نورې پوښتنې، ځان مې په تاخ کې په یوه اېښودل شوي پنډ کتاب بوخت کړ، هماغه کتاب مې امانت ورڅخه واخیست او خدای پاماني مې ورسره وکړه.
شپې ورځې یو په بل پسې تېرې شوې. اکرم به سهار وختي له کور څخه ووت او مازدیګر به هماغسې غلی کور ته راته او د باغچې د دېوال سیوري ته به دکتاب په لوستلو بوخت و، د ده د ژوند په هکله له مورږ سره پوښتنې هماغسې بې ځوابه پاتې وې، خو د لوی اختر د ورځې پېښې نه یوازې زمورږ پوښتنې حل کړې، بلکې د اکرم په ژوند کې یې هم ژور بدلون راوست، لکه چې له هغه وروسته به ده تل ویل وس چې مې عاطفه او له همنوع سره زړه سوی ولید، غواړم چې ژوند وکړم.
د اختر لمونځ مو ادا کړ، یو بل ته مو د اختر مبارکي وویله، ټولو نوې جامې اغوستې او خوشحاله وو، خو د اکرم په حالت کې د خوښۍ په همدې ورځ هم کوم بدلون نه و راغلی، هماغسې چورتي د لرګیو د خونې پر وړوکي بام د ګرم لمر پیتاوي ته یې ډډه وهلې وه او مخامخ سیمې ته یې په ځیر سره کتل.
زه په دې فکر وم چې په څه ډول هغه له ځانه سره بوځم چې څو شېبې په خوښۍ سره تېرې کړي، چې هغه راغږ کړ او زه یې هم بام ته وروبللم، په خوښۍ د لاس په اشاره یې وپوهولم چې مخامخ سرای ته وګورم، ما چې هغې خوا ته وکتل په لوی سرای کې مې غویی تر سترګو شو، له ځانه سره مې وویل دا خو دومره مهمه خبره نه ده، هغه

لکه چې پوه شوی وي د کښېګناستلو اشاره یې وکړه. ویې ویل:
ـــ وګوره غویي ته ښه په ځیر سره وګوره.
غویي یې د قربانۍ لپاره دغه سرای ته چې له ده دمخه نور غویان هم پکې حلال شوي وو، راوستی و. غویي په ځیر ځیر یوې او بلې خوا ته کتل، د حلال شوي غویي د ځرمنې خوا ته ورغی، ځرمن یې بوی کړه، بېرته یې سر راپورته کړ شا و خوا ته یې وکتل، بیا یې پر ځرمن بوی وکېښ، ځرمن یې پخپل شونډک واړوله راواړوله، بیا یې په ځنګ کې بلې ځرمنې ته پام شو. ورغی، ښه بوی یې پرې وکېښ، بېرته یې سر راجګ کړ، ما ته داسې ښکاره شوه چې پر خپل همنوع د بېوسۍ اوښکې تویوي او د هغه د قاتل په لټه کې دی، غویي د سرای د یوې فلزي دروازې پر لوري منډه کړه.
دروازه یې په شونډک ووهله، خلاصه نه شوه، ښکرونه یې ورته ټمبه کړل، خو ونه شول بیا د ځرمنو خوا ته راغی ځرمن یې بوی کړه او حیران دریان ودرېده.
اکرم هغسې چې د غویي هر حرکت یې په ځیر سره څاره، ما ته وویل:
ـــ وګوره غویي ته وګوره، پر خپلو همنوعانو یې څومره خوا بده ده، بې له دې چې ووایي چې ځرمن یې توره ده، سپینه ده، سره ده او که بل رنګ، بې له دې چې زما له قوم او خپلوانو څخه دی، که نه وي، وګوره حیوان وګوره، د بل حیوان په درد څومره دردمن دی. بې له دې چې څېرې ته یې وګوري، راشه وګوره د حیواناتو پاچا، اشرف المخلوقات هو، انسان اشرف المخلوقات څه څه کارونه کوي، د خپلو ګټو لپاره بل انسان په دار ځړوي، د رنګ، ژبې، قوم، نژاد او سیمې په نامه د نورو انسانانو وینې څښي او دومره له حیوان څخه هم زړه سوی نه زده کوي. زما ګران جان ګل یې په دې تور شهید کړ چې د دوی په ژبه یې خبرې نه کولې او جنازې ته یې ډېر خلک رانه غلل، چې د دوی په رنګ، څېره او جامې یې نه لرلې او نه د دوی له قوم څخه و او زما د تنکي زوی اسد جان په سر کې یې ځکه مېخونه ووهل چې نه یې څېره د دوی په ډول وه او نه د دوی له سیمې څخه و او لوی خدای په بله سیمه کې پیدا کړی و، مېرمن او اولادونه مې ځکه په لمبو کې وسوځېدل، چې د دوی د مخالف لوري په

سیمه کې مې کور و او زه هو زه، زه ځکه داسې بدمرغه او خوار و زار شوم چې د دوی په ډول فکر مې نه کاوه.
اکرم په لوړ اواز شمېرلې- شمېګرلې خبرې په داسې احساساتو سره کولې، چې د ډېرې زړه یې هم نرماوه، زما په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، خبرو یې دومره تاثیر درلود چې د ده په لنډو جملو کې مې هغه ټول تېر شوی حالت سترګو ته ودرېده، د هغه ځوان زوی مې ولید چې څو تنو وسلوالو له شکنجې او وهلو ټکولو وروسته د هغه لوړ دېوال نیمایي ته پورته کړ، په پښو او لاسونو یې مېخونه ور ووهل او په دېوال یې ځړېدلی پرېښود. . .
د توغندي په تورو دودونو اوسرو لمبو کې مې د ده کورنۍ ولیدله، هلته لیرې یې مېرمن د لمبو په منځ کې د لرګیو او پخو خښتو تر امبار لاندې پرته وه او هڅه یې کوله چې ځان خپل کوچني تي خوره ماشوم زوی ته چې د خوني په بل کونج کې لمبې ترې تاوېدې ور ورسوي. . .
اکرم مې ولید چې له سترګو څخه یې د بېوسۍ اوښکې روانې وې، یوې او بلې خواته یې منډې وهلې، خو څوک نه و چې د ده اولاد د اور له لمبو څخه راوباسي نور مې غوږې هېر شو او د شلمې پېړۍ د انسان، انساني وحشت ته فکر وړی وم خو اکرم مې بېرته پام د غوېي لوري ته را وګرځاوه، ویې ویل:
ــ راځئ، راځئ چې له حیوان څخه یې زده کړو، راځئ عاطفه، زړه سوی او له ژوند سره مینه له حیوان څخه زده کړو، وګوره، وګوره.
غوېي لکه چې د قاتل په لټه کې وي په قار قار یې یوې بلې خوا ته کتل، هلته لیرې یې واښه تر سترګو شول، ورغی بوی یې کړل خو ویې نه خوړل همداسې ورڅخه روان شو، نور هم ګړندی شو، د دېوال کونج ته لاړ، بېرته راوګرځېده سر به یې کله کښته او کله لوړ نیولی و، خو نا څاپه ځای پر ځای ودرېده، غوږ یې ونیو په دې وخت کې د سرای په دروازه یوه ډله خلک رانوتل، د دوی شمېر اته نه تنه و د یوه تن په دواړو بغلونو لویې لویې چړې په چرمي پوښ کې ځوړندې وې، د غویي چې ځنګه سترګې

پرې ولګېدې د هغه پر لوري په بيړه ور روان شو، قصاب هم حملې ته چمتو شو او د غويي پر لوري سوکه سوکه ور وخوځېده، غويي هماغسې مخامخ ور روان و چې ښه ورنږدې شو قصاب هم ودرېده او چاړه يې په لاس کې سمه کړه، غويي په خېټه کې په ښکر وواهه، قصاب پر ځمکه ولوېده چې بيا راپورته شو غويي يې پښنو ته ښکر ټمبه کړ، تر يو څه ځايه يې په ښکرو کې اخيستی يووړ او بيا يې پر مځکه وويشت قصاب چې پوه شو نن له هغه غويي سره نه دی مخامخ چې دی يې هره ورځ په غاړه چاړه راکاږي، نو د شا پر خوا يې منډه کړه.
له دې سره اکرم له واره چيغه کړه:
_ودرېږه په چا اموخته شوی يې، ته هم وينې تويوې اوس به دې حال ګورم.
او ما لومړی ځل د اکرم پر شونډو موسکا وليدله له ځانه سره مې وويل کاشکې چې اوس بل څوک هم وای چې د ده د خندا شاهد وای، غويي په قصاب پسې منډې وهلې، نور ولاړ خلک هم يوې او بلې خوا ته سره خواره شول، د سرای په دروازه کې سره جرګه شو چې د غويي د نيولو او حلالولو لارې چارې وسنجوي، څو شېبې وروسته يې غويی کلابند کړ، غويی پر خپل ځای ولاړ و، يوې او بلې خوا ته يې سترګې اړولې لکه چې د خپل اصلي دښمن په لټه کې و، خو هغه نه و، تللی و چې بل با تجربه قصاب راولي، د خلکو ډلې له څلورو خواوو غويی کلا بند کړی و.
او شېبه په شېبه يې د محاصرې کړۍ تنګوله، کله چې سره ورنږدې شول غويي پرې رامنډه کړه، سپين کالي سړي ته سر ټمبه کړ او له دېوال سره يې جوخت کړ، نورو د شا له خوا په ډبرو وويشت خو غويي د سپينو جامو وال سړی نه پرېښود، له دېوال سره يې سخت وواهه، د شا له خوا يو بل په تبر وواهه، غويي د هغه پر لوري ورمنډې کړې او سپين کالي سړی ترې وژغورل شو، اوس نو هر يو خپل ځان بچ کاوه، غويي يو ځل بيا څرمن بوی کړه او هلته ودرېده.
يو بل ځوان چې نيلي کالي يې اغوستې او د کلينرانو په دود سره خولۍ يې په سر ايښې وه راغی دا نورو ته يې وويل:

ـتاسي په ټولو سره يو غويی نه شئ نيولای، ورځ خو دلته دربانديِ تېره شوه، يو بل ورته وويل:

ـکه دومره ښاغلی يې، ته يې ونيسه موږ خو خپل وس پرې وکړ.

شين کالی ځوان د سوک وهونکو په څېر په داسې حال کې چې په دواړو لاسونو يې پړی مخې ته نيولی و، د غويي پر لوري ورروان شو، د غويي چې سترګې پرې ولګېدې د هغه پر لوري يې منډه ور واخيسته، په يوه کونج کې يې رااېسار کړ، د شا له خوا نورو په لوټو او ډبرو وويشت او هغه يې ترې وژغوره، وروسته دوی ټوله په ګډه د غويي پر لوري يرغل ور وړ، د چا سره چړې د چا سره بېلونه او تبرونه وو او چا غټې ډبرې په لاسونو کې نيولې وې خو غويي يوې او بلې خوا ته منډې وهلې، شېبه په شېبه پسې وحشي کېګده، سر يې ټيټ اچولی و،کله به يې په يوه او کله په بل پسې منډې کړې ټوله ايله خپل ځانونه وساتل.

په دې وخت کې يو بل سپين ږيری قصاب راغی، ټول له هغه سره په يوه ګوشه کې ودرېدل د هغه خبرو او نصيحتونو ته يې غوږ نيولی و، بېرته ټول په يوه اتفاق سره د غويي پر لوري ورروان شول، يوه يو څه رشقه يې هم غويي ته ورواچوله هر دوو تنو د پړي يو او بل سر په لاسونو کې نيولی و او له څلورو خواوو سوکه سوکه د غويي پر لوري روان شول، د غويي ښکرو ته يې په ډېره ورتيا ول ور واچاوه او د مخ پښې يې په بل پړې دوربل شوې، همداسې په بل پړي کې يې د شا يوه پښه بنده شوه او دوه نور پړي يې هم غاړې ته ور ولوېدل، غويی يې څملاوه غويي لغتې وهلې، خو له ټولو خواوو په پړي ټينګ تړل شوی و، قصاب يې له واره پر مرۍ چاړه راتېره کړه، د غويي دواړه سترګې د څرمنې پر لوري کږې پاتې شوې .

# توره کښوړه

کانتینر ورو ورو تودېده، تودوښه دومره زیاته شوه، چې په کانتینر کېګ شپږ تنه زندانیان له خپلو ځایونو څخه پورته شول، کله به یې یوه پښه او کله بله پښه په ځمکه لګول، نور په هغو کې د درېدو توان نه و او پښې یې سوځېدې. په کانتینر کې یې یوې او بلې خوا ته منډې وهلې، د خلاصون ټولې لارې تړل شوې وې هغسې چې د ننوتلو په وخت کې وسلوالو ورته ویلي وو، چې کلمه مو ووایاست نور مو امید له لاسه ورکړئ او نور له ژونده لاس ومینځئ.

ډېرکرمن زمان د کانتینر په کونج کې ځای نیولی و، هڅه یې کوله چې د کانتینر په دېوالونو د چت پر لوري پورته شي، خپله خولۍ او کورتۍ یې وایستلې او تر پښو یې لاندې کړې. په هغه وخت کې هم د خپل یوازېني څلورکلن زوی په چورت کې و، چې د وتلو په وخت یې ورته ویلي وو، بابا موټلک (موټرک) دې هېل (هېر) نه شي.

زمان به بیا شونډې وچیچلې او له ځانه سره به یې وویل:

_یا خدایه، ته پرې مهربانه شې، او بیا یې د خپلې مېرمنې ټولې خبرې ور په زړه شوې.

_ګوره فکر دې وي چې ژر راشي په ببلرکې یوه لپه اوړه پاتې دي د بېګاه لپاره څه نه لرو اوړه ژر را ورسوه.

د کانتینر د تودوښې لا زیاتوالي د هغه د چورتونو لړۍ پایته ورسوله، د حاضرو کسانو چغې پورته شوې، له یوه بله یې پناه غوښته او د کانتینر دېوالونه یې ګرېول د زمان تر پښو لاندې هم ځمکه زیاته سره شوه.

او ترې لاندې کالیو دودونه پورته شول، هر یوه په لوړ اواز کلمه شریفه ویله او خدای(ج) ته په زاریو وو، د دروازې پر لوري به یې منډې کړې او چې نا امیده به شول بېرته به یې بلې خوا ته منډې کړې، د کانتینر دېوالونه به یې ټکول، دوو درېیو تنو خو ځانونه د کانتینر په دېوالونو پورې په ډېر کړاو ځوړند کړي وو، خو په دې وخت کې په ناڅاپي ډول د کانتینر دروازه خلاصه شوه، ټوله په یوه وار په نیمکښه دروازه ورمنډې کړې او د سترګو په رپ کې یې په داسې حال کې چې اف اف نارې وهلې له کانتینر څخه ووتل، دوو تنو وسلوالو نه شوای کولای چې د دوی مخه ونیسي، ایله دومره یې وکوله چې د کانتینر مخې ته یې غونډ کړي او د تېښتې مخ یې ونیسګي، یوه تن زمان تر مټ ونیو او له ځانه سره یې رهي کړ، څو تنه نور وسلوال راغلل او پاتې پنځه تنه یې یو یو بېرته په کانتینر کې واچول، زمان په مخ روان و او شا ته به یې کانتینر ته کتل، پر کانتینر

ليكل شوي وو "ظالم و مظلوم نباشيد" په ټوله لار کې د هغو پنځو تنو په فکر کې و، له ځانه سره يې ويل:
_څه کې مې اعدام ته بيايي، بيا هم د دنيا په سر له دوزخ څخه خو خلاص شوم.
زمان په ډار او وهم کې له وسلوال سړي سره روان و، يوې او بلې خوا ته يې کتل، خو د تېښتې ټولې لارې تړل شوې وې، نه يې شواى کولاى چې وتښتي. وسلوال پر هغه پوه شو ورو يې په غوږ کې ورته وويل:
_وېرېږه مه زه تا پېژنم، زه ستا دوست يم قربانعلي ستا عسکر يم ډګرمن صاحب تا له ما سره ډېرې نېکۍ کړې دي او اوس زما وار دى چې ستا احسان پر ځاى کړم.
خپلې کوټې ته يې راوست او تر چاى څښلو وروسته يې ورته وويل:
_که له موږ سره پاتې کېږې او همکاري راسره کوې خوشحاله به شو او که دې کور ته سودا وي نو په مخه دې ښه.
زمان بې له دې چې څه ووايي، له ځايه راولاړ شو، پر قربانعلي يې غېږ وګرځوله ورته ويې ويل:
_که رښتيا په خپله خبره کې صادق يې، نو ماته اجازه راکړه چې لاړ شم يوولس ورځې مخکې مې په کور کې اوږه نه لړل اوس به يې څه حال وي.
_ته کولاى شې چې لاړ شې، خو په لاره احتياط کوه، موږ هم هر يو ځان ته پاچا يو.
زمان په ګړنديو ګامونو روان و، خو له پاسه يوه تن ورباندې غږ کړ:
_چېرته ځې، ودرېږه له تا سره کار لرم.
د زمان وار پار خطا شو، پوه شو چې په بله لومه کې کښېووت، ځاى پر ځاى ودرېد، زمان له ځانه سره د تېښتې پرېکړه وکړه او د دېواله خوا ته نژدې شو، خو کله چې يې منډې ته ځان جوړاوه، بيا غږ پرې وشو:
_نه مې وو درته ويلي چې ځاى پر ځاى ودرېږه، او بيا يې په خندا وويل:
رښتيا چې مار خوړلى له پړي هم وېرېږي، ها واخله دا کځوړه امر صاحب راکړه بېګاه ته يې پخه کړئ، زمان کځوړه ترې واخيستله او پر خپله لار رهي شو، څو ځله په زړه کې ور تېر شوه، چې دغه توره کځوړه ايسته غوځاره کړي، خو بيا يې له ځانه سره وويل:
نه ضرور نه ده، دا هم ښه ده که چا په لاره کې نيولم، ورته وبه وايم چې په اجازه راغلى يم او دا کځوړه هم ستاسې امر صاحب راکړه.
زمان په ګړنديو ګامونو روان و او په ځان نه پوهېده زړه يې غوښتل چې وزر يې لرلاى الوتې واى

او خپل کور ته رسګېدلی وای، له ځانه سره یې ویل که خدای په خیر ورسولم، نجیب جان به ډومره راته خوشحاله شي، هغه به موټر غواړي څه به ورته وایم، کڅوړه به ورښکاره کړم، ورته وبه وایم چې په کڅوړه کې مې تا ته موټر او منې راوړې دي، ډومره به خوشحاله شي، زمان ښه وړاندې راغلی و دلته نو بله پاچاهي وه هو ښځې بله د نورو مشرانو عکسونه او نور ښېرغونه.
زړه یې غوښتل چې کڅوړه چېګرته واچوي او ځان له دغې بدمرغې تورې کڅوړې بېغمه کړي، خو بیا یې په زړه کې ور تېر شول تاوان یې څه دی؟ له ځانه سره یې وویل چې ویې وګورم، خو د کور د لیدو تلوسې هغه ته دا وخت ور نه کړ چې د کڅوړې خوله پرانیزي او ویې وګوري، یوازې یې پر هغې لاس را تېر کړ، غوښه ورته معلومه شوه.
اوس په سرویس کې د کور پر لوري راون و، ځان داسې ورته ښکارېده لکه چې مړ راژوندی شوی وي، یوې او بلې خوا ته یې وکتل، له هر څه یې بېل خوند اخیست، خو د کڅوړې فکر هغه یوه شېبه هم ارام نه پرېښود، له ځان سره یې وویل:
_دلته به یې په موټر کې پرېږدمه زه به کوز شم، نه بابا ګټه یې څه ده، نه هر وخت چې له موټر څخه کوز شوم، ایسته به یې غوځاره کړم، ډېر ورت مې ځنې کېږي په زړه کې به یې ځان ته خندا راغله چې په څه چټیاتو لګیا دي، موټر د کور خوا ته ورسګېده او زمان د کور خوا ته په چټکو ګامونو روان و، د کور د لیدو خوشحالي یې هېره وه، د کڅوړې په فکر کې و.
_څه بد کار مې وکړ، باید په موټر کې مې پرې ایښې وای، اوس څه پرې کړم هېڅ نه شم پرې کولای، هغه دی، حاجي باز محمد له کوره راووت ما ته ګوري ټول خلک ما ته ګوري، باید کور ته یې یوسم، بیا به یې له ځانه سره وخندل.
_زه هم عجیب سړی یم، په څه فکرونو لګیا یم، سمه غوښه کور ته نه وړم، پخوا به مې په درېیو میاشتو کې دومره غوښه نه شوه پیدا کولای، اوس تیاره غوښه کور ته نه وړم، عجیب لېونی راڅخه جوړ شوی، یوولس ورځې زندان او بېلابېلې جزاګانې، خو له سړي څخه داسې لېونی خامخا جوړوي...
په دې فکرونو کې د کور دروازې ته ورسېده، زوی یې د هغه په غېږ کې ځان واچاوه او د پلار بېلتون موټر ورڅخه هېر کړی و، مېرمنې یې له ډېرې خوشحالۍ اوښکې تویولې، د کوڅې خلک او ګاونډیان خبر شول، ټول یې پوښتنې ته راغلل، رښتیا هم لکه مړی چې را ژوندی شوی وي،ځکه ټول خبر وو، چې ډېرې خطرناکې سیمې ته په ډېرو خطري لارو په اوړو پسې تللی و. مېلمانه تلل راتلل او له ډېرو لیرې ځایونو څخه هم خپلوان او دوستان راورسېدل.

زمان خپلې مېرمنې ته هغه توره کڅوړه ورکړه او ورته وېې وويل:
_مېلمانه ډېر شول، دغه غوښه ټوله پخه کړه، وېې ګوره که کمه وي چې نوره راوړم، بيا وواېه چې هېر دې نه شي.
زمان له مېلمنو سره خبرې کولې او د تېرو يوولسو ورځو کيسې يې چې مېلمنو ته نوې او ځينې يې د منلو وړ هم نه وې ورته کولې، دوی په دغو کيسو کې وو چې زوی يې په منډه کوټې ته راننوت.
_بابا، بابا، مور. . .
کله چې زمان پخلنځي ته ورغی، مېرمن يې د پخلنځي پر غولي لوېدلې وه.
_څه خبره ده؟ څه وشول؟
_ت، ت، ت ته ته ته.
_څه څه څه خبره ده؟ خبرې وکړه، څه بلا ووهلې.
_ت ت ت ت ته ته ته غه غه غه.
_ته ته څه خبره ده، خبرې وکړه، روغه جوړه ښځه يې، څه شوې دي.
_هغې نور څه ونه ويل او سترګې يې د کڅوړې پر لورې وازې پاتې شوې.
ټول پخلنځي ته راغلل د زمان د مېرمنې جسد يې له ځمکې څخه پورته کړ، زمان چې کڅوړې ته وکتل له خولې يې چيغه ووته.
_الله دا څه وينم، په کڅوړه کې تی دی، الله فضل وکړي، له دې خبګرې سګره په ځمکه ولوېده.
کابل ښارندوی مېنه
28/2/1374

# مينه او وسواس

نور مې له ژونده زړه تور شوی و، ښايې هسې د عادت له مخې سهار له کوره وتم او ماښام بيرته راتلم، د هيلو ټولې دروازې مې مخې ته تړلې ليدې.

د هغې مغروره ښکلا د اسارت کړۍ راته ګرځېدلې وه، د ښکلو بادامې سترګو انځور مې يې په هر څه کې ليده.

زموږ د ادارې زلمو خپلې خولې د هغې د نوم په اخيستلو خوږولې، د پېغلو خو به پرې کينه راته او په هغې يې دومره ښکلا نه لوربېده، داسي څرګندېده چې له ما سره دا دواړه احساسه ملګرې وو، د هغې نوم مې د خاطرو د کتابچې د هرې پاڼې ښکلا وه، زړه مي نه ترې صبرېده، دا تېر دوه کلونه خو مي هر څه وکړل، خو دې يو ځل هم په هغو سترګو راته ونه کتل په کومو چې ما ورته کتل، کله کله به مې ځان ملامتاوو، ښايي زما په کتو کي به داسي څه و، چې هغې سم نه راته کتل دا څه ډول ښکلا وه، کاشکې دومره ښکلې نه وای، کاشکې دا پوزه خو يې لږ ټيټه وای، دومره غټې سترګې، که يوه يې ړنده وای يا په يوه کي يې ګل وای څومره به ښه و، که جګه نرۍ پوزه يې لږ هم پلنه وای نو نرۍ جګه ونه به يې لږ بدرنګه کړې وای اوس به يې ناز هم لږ و، که لږ له ونې ټيټه وای څه به شوي و، او خدايه! که دا زنه يې لږ نوره اوږده شوې وای، يوازي يوه سانتي اوږده وای نور يې په ښکلا کي يو وټ پيدا کېده، عجيبه ده که بله نجلۍ د دې غوندي په صورت خواره وای، ولاکه يې چا اننګو ته کتلي هم وای، خو د دې سرو اننګو يې ښکلا لس چنده کړې ده، د نورو چې شونډې يو څه غټې وي، څومره بدې ښکاري د دې شونډې خو لا اور لګوي، دا اننګي او شونډې يې ولې داسې سره او ښکلې دي، دا به د دې پوډرو او رنګونو کار وي، نه نه وايې په دنيا کي کوم شی چې د دې ترې ورټ کېږي هغه پوډر دي، نو بيا؟ بس زما د ځورولو لپاره دومره ښکلې شوې ده، که له دې لوړې ونې سره يې زلفې لږ لنډې وای، بيا به هم ښکلې نه وه، کاشکي څوک ورته ووايې چې ظالمې دا زلفې خو لږ لنډې کړه، دا لنډۍ به مې خولې ته راغله.

خدايه! د مور يې ورته پام کړې

چې په لنډۍ زنه يې ووهي خالونه

يا خدايه! د چا ورته پام کړې چې ورته ووايې، دا زلفې خو دې لږ لنډې کړه شا و خوا

دې ګوره بله نجلۍ هم ستا غوندې اوږدې زلفې لري؟ خلک به څه وايي چې دا د چا لور ده؟ د چا لمسۍ ده؟
د چا وريره ده؟ دا د اوږدو زلفو واله شوخه نجلۍ د کومې کورنۍ ده؟ که ډېرې درباندې ګرانې وي لږ خو يې لنډې کړه، هيڅوک پيدا نه شول چې ورته ووايي ښايي زما غوندې به يې خوند هم ترې اخيست، او زما غوندې به د نورو هم دا لنډۍ د زړه په تخته ليکلې وه چې:
مسافر تلې در جګګه نه شوم
تر پښګو مې لاندې شول د زلفو تنابونه
ښايي دا لنډۍ هم د دې لپاره ويل شوې وي، نه پوهيږم دا نو څه ښکلا ده چې د سړي لاس ور ونه رسېږي بايد ښکلا يې ونه بولو، نور پخپله مينه شکمن وم، نه پوهېدم، دا نو اوس مينه ده که کينه؟ کله کله به مې له ځان سره ويل، که په ښکلا کې يې لږ "خو" پيدا شي بس نو زه به يوکامل مين شم، اوکه همدومره ښکلې او مغروره وي بيا يې نو زما پرې څه هغسې خو په اسمان کې سپوږمۍ هم شته، زه پخپله دې هيله کې هم صادق نه وم.
يوه ورځ دفتر ته نه وه راغلې چا ويل چې سترګې يې خوږېږي، په هغه ورځ مې له ډېره غمه د هغې سترګو ته څلور شعرونه وليکل، په چا مې خطاطي کړل، چې ور يې کړم، خو تر اوسه مې هم لاندې ورکړي، زه د خپلې مينې او ورسره دومره کينې په اصلي علت نه پوهېدم خو ښايي د نورو لاملونو تر څنګ يو د دې کبر هم وي، پلوشه دومره کبرجنه وه چې خبرې خو څه سم يې راته کتل هم نه.
يوه ورځ مې ټينګ هوډ وکړ، توکل په خدای چې هر څه کېږي نن د زړه ټولې خبرې ورته کوم، له دې تل وسواسه خو به خلاص شم، بيا که هـــر څه پېښ شول وي به.
د پوهنتون د شپې د درسونو د پيل لومړۍ ورځ وه، د رخصتي په وخت کې د دوی د لين د مامورينو موټر ته پورته شوم، شاته کښېناستم او تر سترګو لاندې مې دا څارله، پلوشه د ښار په منځ کې له موټره پلې شوه، په ښار کې مې ځو ځله کوښښ وکړه چې

ترې دمخه شم سترګو ته یې ښه ډېر وګورم او بیا ټولې خبرې ورته وکړم، خو ورته نږدې به شوم بیرته به شاته شوم، ښایې دا به زما نېکمرغي وه، کومې خواته چې زما د تللو نیت درلود دا هم په هغه لوري روانه وه، د پوهنتون په موټر کي کښېناستله، د زړه درزا مي زیاته شوه، دا هم لکه چې پوهنتون ته ځي، نه نه دومره نیکمرغه هم نه یم هغې خواته به یې څه کار وي، که هر ځای پلې شوه هغلته به ټولې خبرې ورته وکړم، د زړه غوټه به ورته خلاصه کړم، هر څه چې راپېښ شول، که یې راپوري وخندل بیا؟ په زړه کي مي د خپلې پوښتنې ځواب جوړ کړ د ځان وژلو مخه خو مي څوک نه نیسي.

زما ګومان په رښتیا بدل شو پلوشه د پوهنتون مخې ته له موټر څخه پلې شوه، ما لا تر هغې ګړۍ د دې په لاس کي کتابونه نه و لیدلي، حتماً دا هم په پوهنتون کي زدکړه کوي، زما دا لومړی کال و، دا به په کوم پوهنځي او کوم ټولګي کي وي؟ اوس نو دا وسواس راسره وه چې دا به په کوم پوهنځي کي وي، خو بیا هم په دې خوشحاله وم، چې په پوهنتون کي یې هره ورځ لیدای شم، نېکمرغي چې چاته مخه کړي بیا نو ټولي خوښۍ په یوه ورځ ورځي، هغه روانه وه او مخامخ د ادبیاتو پوهنځي ته تله، دوهم پوړ ته پورته شوه، د مهال وېش تختې ته ودرېدله، زه څومره نېکمرغه یم، دا هم زموږ په پوهنځي کي ده، د نه منلو وړ خبره ده موږ دواړه په یوه پوهنځي کي زدکړه کوو، زه په همدې چرتونو کي وم چې پلوشه د محصلینو په منځ کي را نه ورکه شوه، سترګي مې هرې خواته پسي سترې وې هو ومې نه لیدله.

د درسي ساعت د پیل زنګ ووهل شو، محصلین درسي ټولګیو ته ولاړل، خو ما دا لټوله، اخیر زړه نا زړه خپل ټولګي ته ننوتم، له ډېري خوشحالۍ مي نږدې له خولې چېغه وتلې وه، پلوشه زموږ د ټولګي په لومړي کتار کي ناسته وه، زما په حالت پوه شوه په تروه تنده یې راته وکتل.

آه زه څومره نېکمرغه یم.

درسونه پیل شول او ورسره زموږ سیالي هم شروع شوې هر چا هڅه کوله چې په ازموینو کي نومرې واخلې او د ټولګي اول نومره شي، ما خو د پلوشې لپاره هم

ډېرکوښښ کاوو اوس مي نو کولای شول چې هره ورځ له هغې سره ووینم او خبرې ورسره وکړم، خو د زړه خبره مي لا هسې په زړه پاتې وه.
یوه ورځ یې د رخصتي په وخت کي راته وویل:
_نن مي ستا د نوټ کتابچه په کار ده، رایې کړه سبا به یې بیرته راوړم.
نه پوهېږم ولي مي ورته وویل:
_نه
_تا خو ټول نوټونه اخیستي دي.
_نوټونه مي اخیستي دي خو ستا لپاره نه.
په حیراني یې وپوښتل:
_ولي زما لپاره نه؟
_هغسې چې ستا سترګي زما لپاره نه دي.
ښایې د داسي لنډ او نا سنجول شوي ځواب تمه یې نه لرله، حیران حیران یې راته وکتل، څه یې ونه ویل رانه روانه شوه، خو زه پخپل دې ځواب کي پښېمانه نه شوم، لکه چې د کلونو ارمان مي پوره شوی وي، د هغې له حیران حیران او په عین حال کي مظلومانه کتو مي ځانګړی خوند واخیست.
اوس چې مي د هیلو له سلو ګلانو څخه یوازي یو ګل غوړېدلی و، ځان مي کامیاب باله، ما داسي احساسول چې اوس نو هغه ضرورت راته لري، نو پرېږده چې د بدرۍ جمالې ښاپېرۍ غوندې یې اوه ګامه اخیستلو ته مجبوره کړم، د لومړي سمستر په ازموینو کي د ټولګي اول نومره شوم، ښایې له همدې کبله د هغې پاملرنه ماته زیاته شوې وي، د پلوشې یوازینۍ هیله دا وه چې په ازموینو کي کامیابه شي، او زه په درسونو کي ورسره مرسته وکړم.
وایي سیف الملوک چې بدرۍ جمال د ډېرو کړاوونو له ګاللو وروسته د ځان کړه، د کسات لپاره یې ورته وویل: چې اوس به اوه ګامه پلی تګ کوې، بدرۍ جماله چې په ټول ژوند کي یې پښه په ځمکه نه وه ایښې، دغې سزا په غوسه کړه په هـــر ګام کي

یې له پښتو وینې څڅېدلې اوس پوهېږم چې سیف الملوک به څومره خوند ترې اخیستی وي.
خو ما چې د سیف الملوک غوندي په دې پسې اوه جوړې د اوسپنو کپې نه وې زړې کړي، د هغه غوندي زړه ور هم نه وم، په لومړي ګام کي د دې د نازکو پښو له وینو سره زما له نازک زړه څخه هم وینې جارې شوې.
په هغه ورځ مي چې د نوټ له ورکولو څخه ډډه کړې وه، او دې په رښو سترګو حیران حیران راته کتلي و، هغه شپه ما هسې یوه غوسه وبلله چې کسات مي ترې اخیستی وي، خو بیا خوبونو د هغې پټې اوښکي یوه یوه دانه راته وښودلې، او هره اوښکه یې د بدرۍ جمالې د هر قدم په اندازه راته ښکاره شوه:
_اه څومره به ځورېدلې وي.
ځان یو ګناهکار راته ښکاره شو.
اوس نو د خپلې دغې غلطۍ د جبرانولو په لټه کي شوم.
له پلوشي سره مي په درسونو کي تل مرسته کوله، نه یوازي خپل نوټونه مي هغې ته ورکړل، ډېر ځله به مي د هغې کتابچه کور ته راوړله او سهار به مې لیکلې بیرته ورکوله. په ازموینو کي به ماته نژدې کښېناستله، ما خپله کامیابي د پلوشي په کامیابي کي لیدله.
زه پوهېدم چې د نورو محصلینو په موږ څومره کینه راځي خو موږ دواړو د هیچا پروا نه کوله.
ښې شپې ورځي ژر تېرېږي، په څو ورځو کي حالات بدل شول، د جګړو لمبې زموږ تر پوهنتون پورې هم راورسېدې او زموږ مینې او خوښې پکې وسوځېدې موږ بیا پوهنتون ته نه ولاړو، څوک چې ورغلې و بیرته رانه غلل.
د جګړې په دوړو کي مي پلوشه ورکه کړه، کور مي یې لیدلی و، خو هغه سیمه هم د پوهنتون په څېر یوه بله پاچاهي وه.
یوه ورځ چې اوربند وشو ورغلم، دوه پوړیز کور یې د خاورو او خښتو په یوه ډېران

بدل شوی و، په هغه ډېران کې مې د خپلو هیلو هدیره ولیده نه پوهېږم څومره وخت به هلته درېدلی یم، یو وخت مې چا په مټ لاس کېښود، چې مخ مې ور واړاوو، یو ځوان و چې خړ پکول یې د سر په یوه خوا ایښې و، په کیڼ لاس کې یې مخابره نیولې وه، ما د پوښتنې په نښه سر ورته وخوځاوو، وسله وال له ما سره د خبرو پر ځای په مخابره کې په خبرو بوخت شو.

_الو الو تمام، الفتح، تمام، الفتح که دې اوریدلي وي اطمینان.

د مخابرې له بغس سره اواز راغی:

_الفتح، تمام اورم اورم.

وسله وال داسې په بېړه او سترې ساه خبرې کولې تا به ویل چې په منډو دی.

_الو الو د خوشال مېني د کورونو کنډوالو ته دښمن داخل شوی دی، دښمن دښمن که دې اوریدلې وي اطمینان.

د مخابرې بغس بیا لوړ شو، ما د مقابل لورې خبرې وانه ورېدې، خو وسله وال بیا وویل:

_هو هو مورږ ته هم راپورونه را رسېدلې دي د میثاق خون له خوا ټولو ته ووایه چې د محاصرې کړۍ تنګه کړي.

وسله وال ماته وکتل، زه هماغسې هک پک ولاړ وم کله به مې د پلوشې د کور په ځای ډېران او کله وسله وال ته کتل، ورټ مې ترې وشو، په زړه کې مې وویل:

_همده دا کور وران کړی دی.

زړه مې و د پلوشې د کور خښته راواخلم وسله وال پرې وولم او د پلوشي د کور د ورانېدو غچ ترې واخلم، مخې ته پرته یوه پخه خښته مې په نښه کړه، بس چې پام یې بله خوا شي په خښته یې ولم، وسله وال مې تر سترګو لاندې څاره، هغه په داسې حال کې چې ماته یې کتل په مخابره کې ګډ و:

. . . _هو، بس یو دېوال هم لوړ مه پرېږدئ، دښمن د همدغو دېوالو شاته پټېږي.

شک مې په یقین بدل شو، ده دا کور وران کړی دی د خښتې خواته سوکه سوکه

نژدې شوم، يو ځل بيا مې وسله وال او بيا ډېران ته وکتل، دوه پوړيز ښکلی کور، د کور مخې ته اوه بې مېوې ونې ولاړې وې، ماشومانو ترې لاندې لوبې کولې، د کور په انګړ کې له دروازې تر کوټو پورې له لرګيو څخه جوړ شوي دا نګور سيوري د کور ښکلا دوه برابره کړې وه.

وسله وال ته مې وکتل، هغه دومره په مخابره کې په خبرو بوخت و چې زه يې هېر کړی وم.

په هغه ورځ هم ده په مخابره کې داسې خبرې کولې، د پلوشې د کور مخې ته ودرېده، دوو تنو نورو وسله والو د پلوشې د پلار موټر له ګاراج څخه را ويوست نور وسله وال کورته ننوتل په يوه شېبه کې له کوره د ښځو چېغې او ژړاوې راپورته شوې د دغه وسله وال پر اوږو په هغه ورځ توغندی و، همداسې د کوڅې له خولې يې يو کور په توغندی وويشت، له کور نه سرې لمبې جګګې شوې، ټوله کوڅه تورو دودونو ونيوله، ټوپکوال يوې بلې خواته منډې کړې.

هو هو همدغه ټوپکوال و، دغه و، دا د ولاړو دېوالونو دښمن همدغه دی، په سترګو مې توره شپه شوه.

د چا غږ په هوښ کړم، يو ټوپکوال بل ته ويل:

_دا د فلسطين سر تيری څوک دی، چې دلته ولاړ دی؟

بل ټوپکوال ورته وويل:

_ليونی به وي.

يو يې را نژدې شو:

_ای! دلته څه کوې؟ چې نېغ ولاړ يې لکه. . .

ما يوازې وويل:

_ام.

دواړو سره وخندل.

_ليونی دی.

_هسې نه چې د دښمن جاسوس وي.
يوه بل وويل:
_نه نه، وګوره ږيره يې نوې رسېدلې ده، چېرې به مامور مامور څه شی و، اوس به ليونی شوی وي.
يوه بل وخندل.
_هو دغه خلګ په کابل داسې خپه کېږي لکه چې د پلار کور يې وي.
زه هماغسې هک پک ولاړ وم، يو بل چې تر اوسه غلی ولاړ و رانژدې شو ويې ويل:
_مور دلته يوه چمبه جنګ لرو، له دې ځايه ولاړ شه، هسې نه چې خون دې راله غاړې شي.
کابل مي د دوی يوې چمبې جنګ ته پرېښود، ما هم کډه ترې بار کړه، لکه چې ټول کابل پېښور ته راکوچېدلی وي ټول دلته و، خپلوان دوستان، د دفتر ملګري د پوهنتون هم ټولګيان، خو د خپلې نيمګړې مينې وسواس دلته هم را سره ملګری و، اوس مي نو د هغې د کور ډېران د خوبونو ملګری و، خو په خوبونو کي هغسې نه وه، لکه ما چې ليدلی و، يوه غونډۍ وه چې پر سر يې لويه هديره جوړه وه، د زيارت تر څنګ به د قران شريف سيوري ته پلوشه ناسته وه چې ور نږدې به شوم رانه ورکه به شوه، ستوری به شوه او اسمان ته به پورته شوه.
د شپې به خوبونو کابل ته بېولم او د هغې غونډۍ په سر هدېرې ته به ورتلم او د ورځې د چرسو نشې په خيال کي د هغې هديرې ملنګ کړی وم.
که مي زمور د دفتر امر حکيم خان نه وای ليدلی، ښايي زه هم د چرسو په نشو کي د خلکو د خندا شوی وای او د سوال لاس مي چاته اوږد کړی وای، د حکيم خان ټوله کورنۍ په ښېر شاه مېنه کي تبا شوې وه، يوازې دی او يو ځوان زوی يې چې دواړه پښې يې غوڅې وې، پېښور ته رارسيدلي و، خو حکيم خان ځان نه و بايللي زوی يې جواری الوی کول او بيا به يې خرڅول ده پخپله کېلې خرڅولې، اوس يې بل واده کړی و، او په کچه ګړۍ کي يې بل کور ودان کړی و.

حکیم خان ماته هم جرئت راکړ، د همده په مرسته مي یوه کراچۍ پیدا کړه او په بورد کي به مې مالټګې خرڅولې.
په هغه ورځ هم پولیسانو پسې واخیستلم، د بورد له بازاره راووتم او خپله د مالټو کراچۍ مې د ګنده نالۍ تر څنګ ودروله هسې مې هم هر مازدیګر د خپلې ورځنۍ ګټې یوه برخه مهاجرو سوالګرو ته بېلول، او مازدیګر مازدیګر به مې سوالګرو ته په پټه خوله یوه، دوه روپۍ تر پنځو او لسو پورې ورکولې خو هغې د ژیړې زړې چادرې والې جګې ښځې ته مي چې دوه روپۍ ورکړې او رانه روانه شوه، بیرته مي غږ پسې وکړ.
هغه ځای په ځای ودرېدله، ورته ومې ویل:
_که ماتې پیسې لرې نو دا سلګون واخله پنځوس بیرته ماته راکړه.
ما هسې خبرې اوږدولې.
_ولي سوال کوې څوک نه لرې چې کار وکړي؟
په ډک ستونې یې ځواب راکړ:
_څوک د چا له حاله خبر دي، په کابل کي مو ټول کور تبا شو یوازي زه او ناروغ پلار مي پاتې یو، چې هغه هم په بستره کي پروت دی، زه. . . زه. . . له. . .
هغې نور څه ونه ویل، یایې نه شوای ویلای، خو زه پخپله دې بې واره پوښتنې چې معمولاً هر بډای یې له سوالګرو کوي، او د دې پوښتنې تر شا یې ډیر څه پټ کړې وي، پښېمانه شوم، اته کاله دمخه د پوهنتون لومړۍ شپې ورځې را یادې شوې هغه ورځ چې پلوشې ته مي د نوټ کتابچه ور نه کړه، بیا مي چې د شپې د هغې اوښکې په خوب ولیدلې، زما حالت بل شان شو، کټ مټ د هغې شپې په څېر چې په هغه ځورونکي خوب را ویښ شوم ما هم څه نه شوای ویلای، عملاً مې خبرې نه شوای کولای، په زړه کي مې خبرې جوړې کړې وې خو لکه چې په ستونې کي د راوتو لاره نه وه.
دا پلوشه ده؟ خبرې او لوړه ونه خو یې د هغې دي.

نو بیا یې ولې زه ونه پېژندم؟ ایا زه دومره بدل شوی یم چې اوس مې خپله مینه هم نه پېژني؟
پخپله اوږده سپینه او توره ږیره مې لاس را تېر کړ، له واره مې ترې وپوښتل:
محمدولي پېژنې؟
_هو، هو ولې چېرې دی تا لیدلی دی؟
ښځه دومره هیجاني شوه لکه چې ډېر قیمت لرونکی غمی یې په لاره کې پیدا کړی وي، او نا څاپه د سیند په اوبو کې ترې لویدلی وي.
ښځې بیا بیا پوښتنې کولې ما په ارامه وویل:
_هو پېژنم یې.
سلګون یې په مالتهو برسیره واچاوو په همغه نا کراري یې وویل:
_که ولې چا راسره مخامخ کړ د سر. . .
ښایې ویل به یې چې که ولې چا راسره مخامخ کړ، د سر ټیکری په زېري کې ورکوم.
خو ښایې خپل ځان او خپلې خیرې خیرې زړې چادرې ته یې پام شوی وي او یا یې هغه ورځې وریادې شوې وې چې له کابله سر توره راووتله.
چوپ شوه، ښایې پخپل ذهن کې په مناسبه خبره پسې ګرځېده، ښایې کوم بل نذر یې مانه، داسې نذر چې وس کې یې پوره وي.
خو ما له واره وویل:
_زه. . . زه. . . محمد ولي یم.
پلوشې چادرې واړوله، سر تر پایه یې راته وکتل لکه چې باور یې نه راته چې دا سپین ږیرې دې هغه خوشحاله محمد ولي وي، چې د دې د خپلولو لپاره یې داوسپنو څپلۍ په پښو کړې وې یوازې یې وویل:
_اوه. . .
_اه. . . د هغې مړ ژوانده څېره څومره له غمونو ډکه وه اوه خدایه دا ولې؟ دا چا؟
خپل ځان ته مې غوسه راغله اته نهه کاله دمخه شپې ورځې را یادې شوې، ما هغه

وخت څه غوښتل کټ مټ هماغسې راته ښکاره شوه، غونډه منډه زنه یې هما غومره اوږده راته وبرېښده، چې ما غوښتل،خدایه! ولي نه پوهېدم ولي مي دومره کینه کوله، په اننګو کي یې هغه پخوانۍ سرخي ورکه شوې وه، غټې غټې تورې سترګې یې ړندې شوې نه وې، خو داسې ښکارېدې لکه چې ړندې سترګې د درملو په زور بیرته بینا شوې وي، جګه نرۍ پوزه یې لکه څنګه چې ما غوښتل پلنه شوې نه وه،خو نوره هم پسې جګه شوې وه، او د دې ښکلې او موزنه څېره یې نا موزونه او بدرنګه کړې وه، خدایه ما څومره ګناه کړې ده، پخپله بې ځایه کینه وشرمېدم، لکه چې ما دې حال ته رسولې وي، پلوشې په ځیر ځیر راته کتل د کتلو مانا یې دا وه.

_اوس خو به دې ښه زړه یخ شوی وي، تا په دې حالت غوښتم کنه څنګه اوس خو به خوشحاله یې؟

زه پخپل بې ځایه کبر او کینه پښېمانه وم، رښتیا ژوند موږ دی انسان پخپله نېکمرغې نه پوهېږي ډېر ځله پخپلو غوښتنو پښېمانه وي، زه هم پخپلو غوښتنو پښېمانه وم، زما په غوښتنو کي مینه او کینه دواړه نغښتي و، خو په مینه کي وسواس مې د کینې پله درنه کړې وه، او اوس پخپله کینه پښېمانه وم، خدایه دا مي څه کړي دي.

زما بدرۍ جماله له کابله تر پېښوره په لوڅو پښو راغلې وه او دلته . . .او ه خدایه!

کابل ځارندوی مېنه

16/8/1374

# دا کابل دی؟

دوی څلور پنځه تنه وو، په مازې خبره يې زما د کېګلو کراچۍ چپه کړه .زه هم پوه نه شوم هغه يو مې چېګ کونډۍ رېره يې لرله پر پوزه په سوک وواهه، له پوزې يې وينو داره وکړه، د وينو په ليدلو سره يې نورو ملګرو له هرې خوا پر ما حمله وکړه، نور زه هم نه يم پوهېدلی، خو د دوی د مشر خبرې مې واورېدې:

_پرې يې ږدئ مړی ځوک په لغته نه وهي، دا نورو هم وليد ښه دی د ټولو لپاره چې په پردي وطن کې کلانکاري کوي، د عبرت سبق شو.

تر مازيګره همغلته پروت وم، خدايزده خپلوان به مې له کومه خبر شوي وي راغلل او روغتون ته يې ولېږدولم، لکه چې ډاکټرانو هم زما مړينه تاييد کړې وه، ځکه د ټولو خپلوانو سترګې سرې وې، د پيښور د ګرمۍ له وېرې يې وطن ته زما د جنازې د لېږدولو عاجله پرېکړه وکړه، په همغه شپه يې د فلاينکوچ موټر ته زما جنازه پورته کړه او موټر د وطن پر لوري حرکت وکړ.

په لومړي پاټک کې پوليس موټر ودراوه.

_مړه ماجره بيا دې څه شي رابار کړي دي؟

_صيب دغه مړی دی چې خراب نه شي، وطن ته يې وړو.

_هوم.

_هو، صيب ګرمي ډېره ده، چې هسې يې ژر وطن ته ورسوو او خاورو ته يې وسپارو.

پوليس نور هم را نژدې شو، د ګل وزير سترګو ته ځير شو، بيا يې لاسي څراغ ولګاوه او سترګې يې د هغه په سترګو کې ښخې کړې.

_ښه ښه پوهړي داسې ووايه چې خپله مې وواژه او اوس يې مړی له سترګو الونيا کوم.

_نه صيب داسې مه وايه دا مې...

_نو پرې دې ږدم چې همداسې يې يوسې؟ ها.

_دا مې د تره زوی دی، په دې وطن کې نور ځوک نه لري د خوارۍ غريبۍ لپاره راغلی و.

او په ژړغوني غږ يې پسې زياته کړه:

_غريب يې په مسافرۍ کې وواژه.

پوليس وخندل، په مسخرو يې وويل:

_مړه دا خبرې بل چا له وکړه، ما نه شې دوکه کولی.

ګل وزیر یې پښو ته ورولوېده په زاریو یې پیل وکړ، صیب په موړ ناوخته کېږي اجازه راکه چې لاړ شو.
_وه وه، سړي وژني او بیا اجازه هم غواړي چې لاړ شي.
ګل وزیر ډېرې زارۍ ورته وکړې خو د پولیس زړه یې نرم نه کړ، ما چې د پولیس قهر او ټینګار او د ګل وزیر زارۍ ولیدې خدای شته، زه هم پر ګل وزیر شکي شوم، هسې نه چې همده وژلی یم، کېګدای شي زما قاتل ګل وزیر وي، کېګدای شي هغه څلور، پنځه تنه د ګل وزیر سړي وي او د ده په دستور یې وژلی یم، په غوږونو کې مې دې خبرو انګازې کولې چې ګل وزیر له پولیس سره د موټر شا ته ولاړ دی، په دې خپلو ګناهګارو سترګو مې ولید چې سره سره لوټونه یې وروشمېرل، شک مې لا پسې زیات شو زړه مې و چې پولیس ته نارې کړم د خدای لپاره مه پرېږده همدغه زما قاتل دی، زه ده وژلی یم، زما څمکو ته یې سترګې پټې کړې دي.
پولیس پخپله مخه ولاړ او موټر هم خپله لار ونیوله لږ وړاندې یو بل افسر د سړک پر منځ ولاړ او اوږده لرګي یې د موټر درولو په اشاره ښوراوه، موټر ودرېده .پولیس د موټر دروازه خلاصه کړه، د کوزېدو امر یې وکړ په موټر کې یې تابوت ته اشاره وکړه، بیا یې ګل وزیر ته مخ ور واړاوه.
_دا قاچاق دې چېګرته بار کړی دی؟
_قاچاق نه دی، دا مړی دی وطن ته یې وړم.
_وطن ته؟
_هو صیب.
_کوم وطن ته؟
_بس خپل وطن ته یې وړم.
پولیس په غوسه وویل:
_ته هم وطن لرې؟ هله ژر یې کوز کړه.
د موټر ډرېور منځګړتوب وکړ.
_واخله صیب دا پنځه سوه ګون واخله چې په موړ ناوخته کېږي.
_نه نه دا د پنځو سوو خبره نه ده، د پنځو لکو خبره ده ته قاتل رانه په پنځه سوه خلاصوې؟
د ګل وزیر حوصله هم لکه چې نوره ختمه شوې وه.
_څه قتل خو مې نه دی کړی، خدای ناترسو ولې مې په عذابوئ، پرې مې ږدئ چې په خپل غم

وژاړم.
دې خبرې د پولیس قار نور هم پسې زیات کړ، ګل وزیر یې تر سوکانو لاندې کړ، له خولې یې وینې روانې شوې، خو ډریور په دې چلونو ښه پوه و، د پولیسو افسر یې د پیښې له ځایه لرې لیرې بوت، خدایزده څه به یې ورته ویلي وي، له هغې خوا ډرېور یوازې راغی،ګل وزیر ته یې لږ ګ په غوسه وویل:
_راځه سپرېږه خدای دې خوار که، نژدې خو یې وژلی وې ته په دې هم نه پوهېږې د پولیس په خوله کې څه زار مار وڅخوه، بیا که سړی وژنې که قاچاق وړې سرې سترګې ګرځه.
پر لاره درې څلور ځایه نور هم پولیسو موټر ودراوه، ډرېور په ژبه ورسره پوهېده، موټر به یې نور ډېر نه ځنډاوه.
غرمه مهال موټر پر پوله واوښت، د وطن ساړه شمال په ګل وزیر او ډرېور کې هم ساوې وچلولې، پولیسو ته یې په کنځلو او ښېرو پیل وکړ، دوی په همدغو شکایتونو او ښېراوو لګیا وو، چې موټر پاټک ته ورسېده، یوه تن موټر په ربړینه تازیانه وواهه، ډرېور ورکښته شو، وسلوال په غوسه ورته وویل:
_د خان زویه دا سر دې ولې لوڅ دی؟
_دا خو صیب هلته ډېره ګرمي وه او بیا یې ژر ژر له سر څخه دسمال راتاو کړ.
وسلوال ګل وزیر تر ږیرې ټینګ ونیو:
_دا څه شی دی؟
_ږیره ده صیب.
_ږیره داسې وي، لږ شرم وحیا ښه وي، په موټر کې دې څه شی بار کړي دي؟
_شهید دی وطن ته یې وړو.
وسلوال په تعجب وویل:
_شهید؟ شهید خو له دې خوا خلک وړي، له هغې خوا شهید له کومه شي؟
_هلته یې جنګ کړی و، مساپرو، د پانتون) پوهنتون) وستاز و، بې ګناه یې شهید کړ.
_هر لوګه بوګه ته شهید مه وایه، چې ګناهګارېږې داسې وواېه چې. . .
ګل وزیر په تروه ټنده ورته وویل:
_هر څه یې چې بولې، اوس په موږ ناوخته کېږي، اجازه راکه چې لاړ شو.
_ښه دا وواېه چې د مړي ږیره سمه وه او که ستا غوندې یې کوندۍ مونډۍ کړې وه.

_نه صیب د هغه ډېره لویه ده.
ما ور غږ کړ.
_درواغ وایي، درواغ وایي، د هغه خبره مه منه.
ګل وزیر په نا امیدۍ د ډرېور خوا ته کتل، لکه چې د ډرېور هم څه په وس کې پوره نه وو،د موټر خوا ته ودرېده او د بوټ په څوکه یې ځمکه ګروله، ګل وزیر په زاریو پیل وکړ، د وسلوال هم لکه چې زړه پرې وسو:
_ښه چې داسې ده، نو ته دوای کنوت ووایه، زیاتي خلاص یې، په مخه دې ښه.
ګل وزیر لکه چې د عای قنوت په مانا پوه نه شو، غلی ولاړ و.
وسلوال ورباندې په غوسه شو.
_ژر کوه الاوومیینه ووایه، ولې برګ برګ راته ګورې؟
ګل وزیر په داسې حال کې چې ساه یې لنډه- لنډه کېګده، ژر- ژر دعای قنوت ولوستله، څو ځایه ترې غلط شوه،خو وسلوال ورته وویل:
_شابس اپرین څه اوس دې وګټله، لږ وړاندې یې پسې راغږ کړ:
_دوا (دعا) کوه.
_خدای مو کاکا کامیاب که، خدای مو. . ..
له دې ځایه چې را تېر شوو، زموږ موټر یوې بلې ړنګې بنګې کوډلې ته ودرېده، چې پرې لیکل شوي وو: تالاشي.
دوی دواړه یې پوستې ته بوتلل، دا چې څه پرې تېر شول زه پرې پوه نه شوم،چې موټر بېرته روان شو، ډرېور ګل وزیر ته مخ واړاوه:
_اوس هم د خدای شکر کوه، چې په همدې پیسو خلاص شوې دا د تالاشۍ پوسته ده د تالاشۍ زه پوه شوم چې رښتیا هم تالا شوي یو، موټر لا دوه ګیرونه نه وو بدل کړي، چې بل پاټک راورسېده، له ګل وزیر څخه یې تذکره وغوښتله، وسلوال تذکره یو بل تن وښودله. هغه واړوله را واړوله، شونډې یې وښورېدې وروسته یې دا بل ته وویل:
راښکته یې که، نه پوهېږي چې راښکته یې که، د دوی تر منځ شفګر و،که څه؟ دا بل وسلوال د کلاشینکوف په کنداغونو د ګل وزیر په وهلو پیل وکړ، په وهلو وهلو یې د سړک پر غاړه کوتې ته ورساوه، ډرېور په جېبونو لاسونه ووهل، خپلې پیسې یې وشمېرلې او کوتې ته پسې ورغی، څو شېبې وروسته دواړه له یو بل وسلوال سره راغلل، چې موټر ته پورته کېګدل وسلوال ورته وویل:

_خپه نه شئ زموږ قوماندان امر کړی دی چې ستاسې د سیمې خلک ځای پر ځای ووژنو، ستا بخت بیدار و، چې وستاذ درسره و.
ډرېور بلد و ځکه ښار ته تر رسېدو دمخه یې هم خپلې پیسې او هم د ګل وزیر پیسې د موټر د شوکیو تر پوښ لاندې پټې کړې، په پاټک کې وسلوال تالاشي کړل، یوازې پنځوس زره افغانۍ یې ورسره پیدا کړې او پخپله مخه لاړ.
موټر په ورانو کنډوالو سر شو، ډرېو ګل وزیر ته مخ راواړاوه.
_دا یې کابل.
ګل وزیر په تعجب ورته وویل:
_دا کابل دی؟
_چې کابل نه دی نو لندن دی، لکه چې زړه دې دی چې لندن ته دې بوزم ها.
ګل وزیر بیا ور غبرګه کړه.
_دا نو کابل دی؟
_خود کابل دی.
_ګوره ښه پوهېږې، چې غمجن یم او په لاره کې هم پاټک والو تالا کړم، ټوکې مه راسره کوه.
ډرېور په بې حوصلګۍ ورته وویل:
_چې نه یې منې مه یې منه، بیا یې ترې پوښتنه وکړه.
_لکه چې ډېر وخت کېګړي له کابله تللی یې؟
_دومره ډېر وخت هم نه کېږي په هغو لومړیو جګړو کې لاړم، خو هېڅ باور نه کوم چې دا دې کابل وي، سمه خبره راته وکه.
ډرېور لږ په غوسه ورته وویل:
_ستا ډېرې زده دي، دا وواېه چې اوس دې چېګرته ورسوم، وخت مه زایه (ضایع) کوه، اوس به بیا جګړه شروع شي.
ګل وزیر سر په دواړو لاسونو ونیو، بیا یې سوکه ورته وویل:
_که دا رښتیا کابل وي، نو ما خوشال مېنې ته ورسوه.
په لاره کې ګل وزیر نور څه ونه ویل، د ښار ړنګو او ویجاړو ماڼیو ته یې کتل یوازې به یې سر وښوراوه، لکه چې اوس ده، هم منلې وه چې دا کابل دی.
په خوشال مېنه کې هېڅوک هم نه وو، څوک څه چې جوړ کور هم پاتې نه و، په خیرخانه مېنه

کې یې زمونږ د ترورزي د کور مخې ته موټر ودراوه، ژر ژر یې خلک را خبر کړل، د جنازې لمونځ په بیړه ادا شو، ملا صاحب په وعظ پیل وکړ، په دې وخت کې له هرې خوا د ګولیو باران پیل شو، د ملا صاحب غږ د توغندیو په غږ کې ورک شو، ټولو یوې– بلې خوا ته منډې کړې، دا معلومه نه وه، چې ګولۍ له کومې خوا راځي، د توغندي یوه ګولۍ زمونږ خوا ته ولګېده، په یوه شېبه کې وینې روانې شوې، ټوله سیمه دودونو ونیوله.

سر مې په ډېره سختۍ د موټر له هندارې سره ولګېد چې سترګې مې وغړولې شا و خوا کانتینرونه وو، خپلې خولې مې په دسمال وچې کړې، ذهن ته مې د کابل هغه کانتینرونه ودرېدل، چې خلک به یې په کې بندیانول او ترې لاندې به یې اور بل کړ، یو ځل بیا مې خولې وچې کړې، ډرېور د اډې منشي ته ورغږ کړ.

_منشي! وه منشي! زما لمبر د تورخم په پیره کې ولیکه، تورخم و، په سپین دسمال کې نغښتې جامې مې لاندې د نورو تر پښو لاندې پرتې وې، د پېښور په افغان کالوني کې مې خپله د کېلو کراچۍ را په یاد شوه.

اوه خدایه. اوس به بیا پردیو افسرانو ته زارۍ کوو، چې هغې خوا ته مو ور پرېږدې.

پېښور، د بي بي سي دفتر
27/3/1378

# د ډوډۍ په لټه

په ژورو چورتونو کې ډوبه وه، سترګې پکې لوېدلې وې، لکه چې ټوله شپه یې په ویښه تېره کړې وه.
شمعې ته یې وکتل نژدې په تمامېدو وه، له خپله ځایه را ولاړه شوه، د مشر زوی سر ته ودرېده، شونډې یې ورپېدې. خدایزده څه یې وویل بیا یې د خپل کوچني زوی له مخ څخه برستن پورته کړه، پر مخ یې ښکل کړ، سوکه یې له ځان سره وویل:
_اه خدایه! ته ښه پوهېږې په ټوله ورځ کې یوه خاشه (ټوټه) ډوډۍ، خدایه څه وکم، چا ته ورشم خپلوانو ما ته سترګې نیولي دي.
له خواشینۍ یې سترګې راډکې شوې، ښه ځنډ یې وژړل، په ژړا کې یې له واره چیغه کړه:
_نه، نه، نه شم کولی، خدای دې مرګ راکړي نه، نه.
اوښکې یې پاکې کړې بیا د خپلو سوچونو دنیا ته ستنه شوه، تېر وختونه ورياد شول، هغه چې ښکلې ځواني یې لرله او ټولې سترګې به د دې پر لوري کږې وې، له دې سره د روزي خان لېونۍ مینه او بیا له هغه سره د ګډ ژوند خوږې شپې.
روزي خان یې سترګو ته جګ ودرېد، داسې ورته ښکاره شوه چې هغه ورته نارې وهي.
_هیلو وه هیلو، ما مه هېروه پر عبدالله او بسم الله پام کوه چې درنه ورږي نه شي.
هیلۍ په ویښه خوب لید، له ځایه را ولاړه شوه، شمعې ته چې وروستۍ لمبې یې کولې ودرېده.
_تم ژاړې، ته څه غم لرې، تر ما خوښه یې، اوښکې تویې کړې، بیا مړه شې. . .
خپل غږ یې پسې لوړ کړ:
_ما ته راشه چې ویلې کېږم، مړه کېږم نه.
بیا یې ورو له ځانه سره وویل:
_وی زه خوم چوره لېونۍ یم، زامن به راویښ کړم، بیا به ډوډۍ غواړي.
پر خپل ځای کښېناسته. د اولادونو لوږه ورياده شوه، په سوچونو کې ډوبه شوه، په

خپله هم وړې وه، زړه یې سولېده، پورته په تاخچه کې یوه ټوټه ډوډۍ یې را واخیستله، نیمه یې کړه خو بیا یې په زړه کې څه ور وګرځېدل، ډوډۍ یې بېرته پر خپل ځای کښېښودله. دا یوه ټوټه ډوډۍ یې بېګا له خپلو زامنو څخه سپمولې وه، نور نه په کور کې ډوډۍ وه، نه پیسې.

د کور د کالیو ډېره برخه یې لا پخوا خرڅه کړې وه، پخپله لوږه نه وه، د اولادونو لوږې یې زړه خوړ، له ځانه سره یې وویل:

_څه وکم، چېرې لاړه شم؟ څوک به مې غم وخوري، هدیرې ته ځم تر ژوندو مړه ښه دي، ژوندي پر چا زړه سوی نه لري خو مړه خپل هډوکي ورکوي، ټول خلک دا کارونه کوي، خرڅ به یې کم، ډوډۍ به پې واخلم.

عبدالله او بسم الله یې له خوبه را ویښ کړل، عبدالله ډوډۍ غوښته مور یې هغه یوه ټوټه ډوډۍ د دوی تر منځ ووېشله خو عبدالله ډوډۍ ایسته غورځاره کړه او په ژړا یې پیل وکړ، هیلۍ یوه کلکه څپېړه پر مخ ورکړه:

_خدای مې دې درچې) څخه) خلاصه کړي، لېونۍ دې کړم.

عبدالله پړمخې پرېووت ژړا یې نوره هم پسې زیاته شوه، مور یې بېرته په غېږ کې ونیو، دې هم ورسره ژړل په ژړا کې یې ورته وویل:

_مه ژاړه در جار مې کړې، اوس خو ډېره ډوډۍ به راوړم.

هیلۍ په هدیره کې پوه شوه چې شپې پسې اخیستې وه، سپیده داغ ته لا وخت پاتې و، ګبنۍ واخیسته، ټول وجود یې له ډاره لرزېده خپل ځان یې ملامت کړ چې ولې په توره شپه کې دلته راغله.

یو نیم کال دمخه هغه ورځ وریاده شوه چې خلکو د روزي خان جنازه دغې هدیرې ته راوړه او دا په وچ زور تر هدیرې ورسره راغله او د دېواله څنګ ته یې له خپلو زامنو سره ژړل.

د غو سوچونو یې وېره له یاده وایسته، دواړه زامن یې په څادر کې پټ کړل او دا په کار لګیا شوه، سره له دې چې تیاره وه خو په قبرونو کې د هډوکو ټولول دومره ګران

کار نه و، ډېر قبرونه دمخه سپړل شوي وو.
هیلۍ په تلوار کله یوه او کله بل قبر ته تله او په وړه پلاستیکي بوجۍ کې یې هډوکي اچول یو وخت یې پام شو چې له خپلو زامنو څخه لیرې شوې ده، په منډه خپل ځای ته راغله عبدالله او بسم الله ویده وو، هیلۍ بیرته په کار لګیا شوه.
د تیارې لمن په ټولېدو وه او د سهار رڼایي خورېدله هیلۍ سره له دې چې په تیاره کې وېرېدله خو د سهار رڼا ته هم دومره خوشحاله نه وه هغې ته دا رڼا د کفن په څېر سپینه معلومېدله، اوس نو بوجۍ ډکه شوې وه، دواړه زامن یې له خوبه ویښ کړل. بسم الله ورته وویل:
_ببۍ تا خو ویل ډوډۍ به اخلو.
_دا ده اوس خو دومره ډوډۍ به درته واخلم چې ته ووایې بس.
بوجۍ یې پر اوږو کښېښودله، هیلۍ په دې خوشحاله وه چې چا په هدیره کې نه وه لیدلې، د هډوکو بوجۍ یې په اوږو دروندوالی کاوه، بوجۍ بل ډول ورته ښکارېده کټ مټ داسې لکه چې د روزي خان جنازه پر اوږو وړي، نن ځان بېخي بل ډول ورته ښکارېده، په غوږونو کې یې ډول ډول غږونو انګازې کولې.
چېګرې یې وړې، هی هی دومره ژر دې هېر کړم.
هغه دي یو یې وړل، لوږې پسې اخیستې ده، زما هډوکي وړي، زما هډوکي خوري.
هی هی ژوندي وګوره، حرص لېوني کړي دي، نور به لاڅه کوي.
مړه هم درڅخه په ارام پاتې نه شول.
ځان وخورئ، دلته مو هم نه پرېږدئ، پر ځان یې هم د انسان نوم ایښی. . . .
هیلۍ فکر کاوه چې دا غږونه به د دې په څېر ټول اوري، دې ته هکه پکه وه چې ښار ولې چوپ دی، ولې ځواب نه وایي.
سره له دې چې اوس یو څه رڼایي وه خو هیلۍ سختې وېرې اخیستې وه پښې یې پسې درنې وې، شا ته یې نه کتل، په ګډو وډو سوچونو کې لوی واټ ته ورسېده له څه مزل وروسته یې لویه شین رنګې دروزاه وټکوله دغه پته یوه اوونۍ دمخه نګارې ورکړې وه

او ورته ويلي يې وو، چې هغه د هډوکو لوی دلال دی هډوکي په ښه بيه اخلي.
يوه پنډه سړي چې کونډۍ ږيره يې لرله، سپينې جامې يې په تن کې وې او له حالته يې معلومېده چې د دروازې ټک ټک له خواږه خوبه پاڅولی، په ډېر کاوړ سره دروازه بېرته کړه، خو د ځوانې ښځې په ليدو يې پر پړېړو شونډو موسکا خوره شوه داسې يې وښوده چې له ډېر پخوا يې پېژني:
_اوهو ته له کومه، په خير راغلې خدای دې راوله.
هيلۍ خپل ټيکری په سر سم کړ، يوه څنګ ته ودرېده. ويې ويل:
_په دې بوجۍ کې مې هډوکي راوړي دي. . . .
_راځه راځه دننه راځه.
_ته مې زامن وينې چې وږي دي، ډوډۍ غواړي هډوکي من په څو اخلې؟
د هيلۍ له تروې ټنډې يوه شو چې په رضا نه ورسره ځي، بله لومه يې ورته کښېښوده.
_هډوکي؟ خبره داسې ده چې هډوکي بېخې ډېر شوي، ټول ګودامونه له هډوکو ډک دي، پاکستان کې يې هم نرخ ټيټ شوی دی، خلکو ته دې خدای انصاف ورکړي، چې يوه شي ته يې پام شي ټول منډې پسې وهي.
هيلۍ سوکه وويل:
_نو نه يې اخلې.
_اخلم يې، خو په يوه شرط. . . .
د هيلۍ د ټيکري پيڅه يې ونيوله، خبره يې داسې بشپړه کړه:
_چې ته هم کور ته راسره لاړه شې، څنګه خوښه دې ده؟
دا خبرې نه وې د ټوپک ټک و، د هيلۍ په سترګو توره شپه شوه، سر پرې وګرځېده د خپلو زامنو سپېرو مخونو ته يې وکتل، ستونی يې راډک شو ټيکری يې له سره اوږو ته وښوييده، ټوله سره پوړېده سترګې يې رډې راوختې، د هډوکو په بوجۍ ورټيټه شوه دوه غټ هډوکي يې راواخيستل پنډه سړی يې پر مخ پرې وويشت. سړي غبرګ لاسونه سرته نيولي وو خلک پرې راټول شول، د خلکو په ګڼه ګوڼه کې د هډوکو د

دلال غږ اوریدل کېده:
_مه یې کوئ غریبه لېونۍ ده، لېونۍ ده.

کابل ښارندوی مېنه
18/11/1378

## د سرو زرو غاښونه

د دوی پایکپ موټر دویم موټر و چې د جګړې د لومړۍ کرښې پر خوا په بېړه روان و، دوی ټولو سرونه له دوړو او یخنۍ نه په بړستنو کې پټ کړي وو.
جلیل د موټر په مخکینۍ برخه کې ولاړ و، پر غوږونو یې خپله خولۍ ښه ټینګه کړې وه، سره له دې چې د جګړې تر سیمې پورې لا ډېر واټن پاتې و، خو ده یوه او بله خوا داسې څارله لکه چې د خپلو دښمنانو په منځ کې وي، دی پوهېده چې په شا و خوا کلیو کې نېک خوا نه لري، شا و خوا یې په ډېر دقت څارله خو کله کله به یې له رحیم ګل سره چې هغه هم له بړستنې سر را ایستلی و یوه نیمه خبره وکړه، په کلیو کې له یونیم ماشوم پرته هیڅوک نه ترسترګو کېدل، یو ځل په کلي کې یوه سپي د دوی په موټر پسې منډې کړې تر ډېره یې پسې غپل یو بل ډز پرې وکړې سپی پر ځمکه پرېووت او د موټرو په دوړو کې پټ شو، عبدالجلیل له کلي سترګې بلې خوا ته نه اړولې، له هرې کلا به چې تیر شو بېرته به یې مخ را واړاوه، تر هغه به یې ورته کتل چې له سترګو به الونیا شو، د زړې کلا پر بام یې د یوې پیغلې په لیدو سره دا سندره له خولې ووتله:

پر بام ولاړه یې نازکې ولیلو، دا رنګ دې ولې ژیړ دی جا. . .
خو د رحیم ګل د خندا غږ یې سندره په خوله کي وچه کړه جلیل چې هماغسې یې د زړې کلا بام ته کتل ورته وویل:
_ځنګه دې داسې په یټکي وخندل؟
_ستا پر لېونتوب مې وخندل.
جنګ ته، ته په خوشحالي روان یې او لیونی ماته وایې؟
_ما پر دې وخندل چې تا بیا د هغې رنګ څه ولید چې زیړ دی که سپین او که تور؟
جلیل وخندل:
_هی هی: ګله ساده ګله ته ووایه څوک چې زموږ دا موټرې او په موټرو کي دا د راکټو ګېډۍ او زموږ د ملګرو دا اوږدې اوږدې ګرګوټې ځنې ویني ځنګه به یې رنګ ژیړ نه وي؟
جلیل سوړ اسویلی وکیښ، چې هغه څه ونه ویل پسې زیاته یې کړه:
_هو ته رښتیا وایې، خو دوی زموږ په زړه څه خبر دي، چې څه پکې تېرېږي؟
_ته له مرګه نه ډارېږې که څه؟
_هی هی وایي په توره شپه کي هر څوک ډارېږي خو څوک حال وایي، څوک یې نه وایي، مرګ دې خدای لیرې لري، څوک به مرګ ته تیار وي.
رحیم ګل په خندا شو:
_خدای دې خوار نه کړه پرون دې د امیر صاحب خبرو ته داسې سر ښوراوه، ما ویل چې دا دی اوس به جنګ ته روان شې او نن بیا له مرګه وېرېږې.
ګوره رحیم ګله ما و تا خو پخوا هم ډېرې خبرې سره کړې دي. . .
جلیل خپله خبره دلته پرېښوده سوړ اسویلی یې له خولې ووت، څه ووایم.
بیا یې د کلاشینکوف د میل په څوکه خپله زنه وګروله پسې زیاته کړه:
_اوس مې دغه خورکۍ چې د بام پر سر ولیده له تا یې څه پټه کړم، سترګو ته مې خپله کور ودانه (مېرمن) ودرېده، هغه به هم اوس زما لارې څارې له دې څوک خبر

دی چې د دې ښځې ورور یا خاوند به زمورږ د دښمنانو په ډله کې وي، او یا به زمورږ له خوا نن ووژل شي ځوک څه پوهېږي چاته.
رحیم ګل یې خبره پرې کړه:
_هغې د چا لاره نه څارله، د تاوخانې موری‌ یې پټوله ځکه پر بام ولاړه وه، او تا ته بیا خپله کورودانه در په یاد شوه، لکه چې دېره دربانديې ګرانه ده ها؟
_ورک یې که په زخمو مي مالګې مه دوړوه، دا دی درې ورځې وروسته اختر دی، ما په کور کې ویلي و، چې له اختره مخکې راځم، له بل چا سره دې ګډه قرباني نه کوي، زه به له ځان سره له بازاره د قرباني لپاره پسه راولم.
رحیم ګل وخندل:
_لکه چې کوم ځای دي ښه وندۀ منډه لګېدلی دی چې سږ کال پسه قرباني کوې؟
_زه د وندۀ لپاره نه یم راغلی.
_له طلایي غاښو خو دې دغسې مالومېږي، د چا چې وندۀ نه وي لګېدلی د سرو زرو غاښونه نه ږدي.
_دا ډېر پخواني دي، ان په دوبۍ کې مې ایښي وو.
یره جلیله نن داسې بل ډول. . .
خبره یوه هیبتناک اواز پرې کړه، موټر په شدت سره بریک شو، شا و خوا دوړې او دودونه پورته شول ټول له موټرو ځخه را کوز شول، یوې بلې خوا ته یې منډې کړې،لومړی موټر ماین وهلی و، ځو تنو هغې خواته منډه کړه، څو د خپلو ملګرو غوښې او هډوکي چې یوې او بلې خواته پراته و راټولي کړي، خو د کاریز او ورته نژدې باغ له خوا د ګولیو باران پرې جوړ شو، دوی ټول د سړک په یوه بله خوا کې په کروندو کې پټ شول او بې له دې چې ځای مشخص وي یوې او بلې خواته په ډزو پیل وکړ.
عبدالجلیل په یوه کوچني لښتي "ویاله" کې ځان په ډېره سختي ځای کړی و، ده ډزې نه کولې، سر یې ښکته نیولی و، خپل کلاشینکوف یې هم داسې د پښو په منځ کې

ټینګ نیولی و، لکه چې له چا څخه یې پټوي.
مخامخ ولاړ واښه سره وښوریدل ده لږ ځان سره سم کړ، کلاشینکوف یې را پورته کړ، قید یې ووهه او هغې خواته ځیر شو، د کلاشینکوف قید ته یې وکتل په ضربه یې ودراوه او د مخامخ ولاړو درګو او واښو په لوري یې نښان برابر کړ، داسې معلومېدل لکه د وښو په منځ کي چې څوک پټ وي، خو دا مالومه نه وه چې خپل دی که پردی.
جلیل ځان نور هم په ځمکه پورې ونښلاوو، د کلاشینکوف په ماشه یې ګوته کېښوده فکر یې وکړ:
څه وکم، ویې ولم، که ډزې وکم نو. . . نه نه، ز ه څوک نه وژنم، ولي څوک مړ کم، د چا په مرګ کي زما څه ګټه ده ګنا لري.
ورته نژدې واښه وښوریدل داسې معلومېده چې څوک د ده خواته رانژدې کېږي.
له ځان سره یې وویل:
اوس نو څه وکم که غږ یې کوم زما ځای ورته مالومېږي او ډز راباندې کوي.
شا و خوا ډزې نورې هم پسې زیاتې شوې، دوی یو له بله ورک شوي وو، دا مالومه نه وه چې خپل کوم دی او پردی کوم دی، له هرې خوا د ډزو غږونه راتلل، یوه نیمه ګولۍ به د جلیل له سره تېره شوه، جلیل له ځان سره سوچ وکړ:
ولم یې توکل په خدای،که نه ما وژني.
بیا تلولی شو:
اوف خدایه! څه وکم په اومر (عمر) مې څوک نه دې وژلي، اوس یې څنګه مړکم.
نژدې درګي او واښه بیا وښوریدل جلیل ورته ځیر شو، خو واښه دومره ګڼ و چې څوک نه پکې مالومېدل، کوښښ یې وکړ چې په ویاله کي ځان وښویوي او ځان ترې لرې کړي خو ویاله تنګه وه، شا و خوا یې وکتل که بل پټ ځای پیدا کړي او ځان په یوه منډه ور ورسوی، خو هیڅ داسې ځای یې پیدا نه کړ، له ځانه سګره یې وویل:
نشته داسې لوری، چې ور وتښتي کمزوری، توکل مي دې په خدای وي ولم یې، که

دی و نه ولم ما وژني، کلاشينکوف يې د وښو په لوري برابر کړ.
ماشې ته يې ګوته ورنژدې کړه، سترګې يې پټې کړې، په ماشه يې ګوته ټينګه کړه خو ډز يې و نه کړ، لکه چې لاس يې سوځېدلی وي، ژر يې ترې ايسته کړ، له سر نه يې خولۍ ايسته کړه، ځان يې نور هم له ځمکې سره ونښلاوو کلاشينکوف يې هماغسې د وښو په لوري نيولی و، بيا يې ماشې ته ګوته ور وړه او چېغه يې کړه:
څوک يې؟ که نه ومې ويشتې.
له هغې خوا په بېړه پرې غږ وشو:
_مه مه زه يم جليله زه يم رحيم ګل يم.
جليل په غوصه وويل:
_زوی مړې اوس خو مې غلبېل کړی وي ولې دې غږ نه کاوو.
رحيم ګل رانژدې شو په زګېروي يې وويل:
_چېغې مه وهه، نه وينې چې شا و خوا ټول دښمنان را تا و دې، او له دې سره د جليل په لوري په سينه را وښويېده د جليل پام شو چې د رحيم ګل له کيڼ لاس څخه ويني بهېږې په خواشينۍ يې وويل:
_او هو ته خو زخمي يې، لکه چې وينه دې ډېره زايه (ضايع) کړې ده دا څنګه؟
_اوه پوښتنې مه کوه.
جليل پخپل دسمال د رحيم ګل لاس و تاړه، خپل ځای يې ورته خوشې کړ ورته و يې ويل:
ته دلته څمله زه به د هغې پولې تر څنګ کېنم، جګړه تر پخوا سړه شوې وه، خال خال ډزې روانې وې د جګړې د بل لوري، ډزې له لرې اورېدل کېدې، خو دوی بيا هم ښايي له وېرې يوې او بلې خواته ډزې کولې، څه شېبه وروسته د دوی د موټرو او زر پوښونو غرهار اواز هم واورېدل شو جليل په خوښۍ وويل:
لکه چې حرکت دی، ځه چې د سرک خواته ولاړ شو چې هسې له دې لانتي "لعنتي" ځای نه ځانونه وباسو خو رحيم ګل زړه نا زړه و، جليل بيا وويل:

_لکه چې زړه دې نه کېږي که څه؟ که تلای نه شې ماته را په شا شه.
_نه نه ښه يم، پخپلو پښو تلای شم.
جليل يو ځل بيا شا و خوا وڅارله، د کوچني ديوال تر څنګ د سړک پر لوري يې منډه واخيستله .
خو د رحيم نا څاپي غږ ځای پر ځای ودراوو.
ودرېږه، چېګرې منډې وهې؟ دا زما کلاشينکوف هم ته واخله زما لاس ډېر خوږېږي.
جليل بيرته د ده په لوري روان شو، رحيم ګل چې د کلاشينکوف ميل د ده په لورې نيولی و په ماشه ګوته کېښوده.
جليل په وارخطايي ورته وويل:
مه مه دا څه کوې څه. . .
او له دې سره په ځمکه ولوېده.
موټرونو هارنونه کول، قوماندان موټرو ته د مړو او زخميانو د پورته کولو امر وکړ، د لومړيو مورچلونو جنګياليو ډزې کولې او نورو مړي او زخميان په موټرونو کي ځای پر ځای کول، رحيم ګل د جليل د جسد تر څنګ خواشينی ناست و سوړ اوسيلی يې تر خولې ووت.
اوه، لکه چې ټولې ګولۍ يې په خوله کي لګېدلي وي، ټول شاجور يې په خوله کي تش شوی دی غاښونه يې ورک دي.
اخ غاښونه، دسرو زرو غاښونه، لکه چې د دواړو له خولې ووتل!!!

کابل شېر علی خان واټ
12/4/1376

# زه، زه یم؟

_ای ای دا څه کوې، ولې ولې اخر څه ګناه مې کړې ده، او مه کوه مه کوه، دا څه کوې جامې دې را ځیرې کړې، مه کوه ولې مې کشوې، ای ای تا ته وایم، اوف، واخ مه کوه.

_دا څه ډول بني ادم دی، خبرې هم نه کوي، تا ته وایم، وه وروره خبرې ولې نه کوې، کوڼ خو به نه یې؟ عجیب سړی دی، ای وروره! ایسته کړه، ایسته کړه. اوه دا د ټوپک خوله دې بلې خوا ته کړه هسې نه چې درنه وویشتل شم، اوف لیرې کړه دا میل بلې خوا ته ونیسه، وی وی د کلاشینکوف قید هم وهل شوی دی، خدای ته وګوره لیرې کړه، دا ټوپک دې بلې خوا ته ونیسه، خدای مه کړه ځان یا ما پرې ژوبل نه کړې، ایسته کړه ایسته کړه، دا څنګه سړی دی، هیڅ خبرې نه کوي، په ژوند مې داسې سړی نه دی لیدلی، هیڅ هم نه وایي.

ای تا ته وایم اورې که کوڼ یې؟

_واخ، واخ، مه کوه اوف، ولې مې وهې، څه ګناه مې کړې ده، واخ مړ دې کړم، مه کوه، د ټوپک قید ووهه، بیا که مې پرې وهې هم، هسې نه چې دواړه په یوه ټوپک مړه شو، واخ مه مې وهه، وای، وای، دا څه کوې، مه کوه غاړبوجن دې کړم.

_عا عا عا. . . عا. . . عا عا عا. . .

اوف، اوف

دا څه رقم بنیادم دی، چې څه ووایم هم وهي مې، چې چوپ شم هم وهي مې. چېرې مې بیایې، عجیبه ده هر څه یې چې زړه وغواړي هغه کوي بیا مې چېرته بیایې، اوه ځومره سخته ده چې ستا زړه نه وي او بل ځوک دې په زور کشوي اخر چېرې مې بیایې، نور لا څه غواړې، پیسې خو یې لا د هوایي ډګر په لاره کې رانه پوورې، نور نو څه غواړې؟_ واخ واخ مه کوه، نو وهې مې ولې؟ دا دی پخپلو پښو درسره روان یم مه کوه مه مې وهه، اوف مړ دې کړم، زما دې د غم چکر شي چې خپل وطن ته راتلم، واخ ملا مې، ملا مې. . .

NNN

دا یې چېرې رواستی یم، دا خو لکه چې کوم حکومتي دفتر دی دا د میز شا ته ناست سړی

شناخته) پېژندوی) مالومېږي، کوم ځای مې لیدلی دی، چېرې مې لیدلی دی.
اوه نه پوهېږم چېرته مې لیدلی دی، حتماً مې لیدلی دی، د هغه هم همداسې کونډۍ ږیره وه، په کاغذونو لګیا شو، څومره په دقت ورته ګوري، لکه چې نه ورباندې پوهېږي که څه بلا، څومره په کاغذ ورتیټ شو، نه نه په خط خو به حتماً پوهېږي، هغه دي اوږې یې ډکې دي، نه پوهېږم چې رتبه یې څه ده، حتماً جنرال دی، لکه چې کاغذ یې ولوست، شونډې خوځوي چې سر راپورته کړي حتماً یې پېژنم، څه څه که یې وپېژنم که نه، اوس مې که خدای کول کار کېږي او له دې ټوپکوالې بلا مې خلاصوي، اوهو هغه دی څه ورته وایي، فکر کوم کنځي یې، ورته وایي چې دا غریب بېګناه دې ولې را وستی دی، ودرېږه اوس به یې ورته وښیي چې یو من اوړه څو پتیرې کېږي، ما خو چې هـــر څومره زارۍ ورته کولې نه یې اورېدلې، لکه چې ډېر ورته په غوسه دی، بېچاره وسلوال څنګه غلی ولاړ دی، لکه چې ځواب نه لري، هغه به ورته وایي چې دا دې په څه ګناه راوستی دی، دی خوارکی به نو څه ورته وایي چې څه ګنا یې کړې ده، وروسته له شلو کالو خپل وطن ته راغلی دی او د خپل کور پوښتنه یې کړې ده، دا خو نو چندان ګناه نه ده.
نه پوهېږم هسې نه چې دلته دا ګناه وي، دا یو نه بخښونکی جرم وي یوازې یو خدای پوهېږي.
دا خو ما ته ګوري، سترګې یې ولې داسې راوتلې دي، بس بس ومې پېژاند، نه نه خدای دې نه کړي چې هغه وي که هغه وي نو بیا؟
نه نه هغه دلته څه کوي، زه هم عجیب ساده سړی یم، په هر سور ږیري د ملا شاه ګل ګومان کوم، نه نه دا هغه نه دی، یا خدایه که هغه هم وي، ته یې بل څوک کړې، یا خدایه یا خدایه هغه هم کونډۍ ږیره لرله او دا هم، هغه ډېر ټیټ او دا مالوم نه دی په چوکۍ ناست دی، سترګې خو یې د هغه غوندې تنګې دي، نه نه دا هغه نه دی د هغه پکول پر سر و او دغه سمه دریشي اغوستې ده، نیکټایي یې هم تړلې ده، اخر جنرال دی، د حکومت سړی دی، دا حتماً زما غم خوري، له دغه وسلوال نه زما پیسې بیرته اخلي او زما د وهلو ټکولو او سپکاوي پور هم پې ږدي. بس د کور او مارکېټ خبره هم ده ته کوم او هغه بل وسلوال چې زما پر کور یې خېټه اچولې ده، هم ورته ښیم، اوه دا په ما څه شوي دي، ړوند یم که څه، هسې نه چې دا هغه وي ډېرې نښې یې د هغه دي، خو هغه ټیټکی و او دا مالوم نه دی ځکه د مېز شاته ناست دی، هسې نه چې دا هغه وي، دا د حکومت سړی دی، د یوه حکومت سړی د خلکو کور نه نیسي او که د چا په کور کې هم واوسي، بیا نو داسګې چلند نه ورسره کوي، لکه هغه چې له ما سره وکړ، نه نه دا سم سړی دی، دا ما ته ګډ دی که څه؟ نېغ نېغ خو راته ګوري، دا سترګې یې څنګه

راایستلې دي ډېر په غوسه دی، چې دا به په چا په قهر وي، وی‌ دا خو را ولاړ شو لکه چې هغه دی، اوه اوه هماغه دی، اوس به څه کړم.
_څه کوې؟ څه کوې؟ ولې ولې مې وهې، مه کوه دا څه کوې ای وروره ټوکې خو به نه کوې، زه څه درته وایم، زما خبرې نه اورې؟ ته هم کوڼ یې؟ اوف مه مه واخ مه کوه، مړ دې کړم، اوف مه مه، زما خبره واوره، دا څه رقم سړی دی، غوږ ونیسه څه درته وایم، زه، زه یم، مه کوه زه هغه نه یم چې تاسې پسې ګرځئ، زه یم، واوره زه، زه یم.
مه مې وهه، واخ، هه هه هه هه. . . هه. . .
وی. . . وی‌ مه کوه، توبه مې ده، کور نه غواړم، نه یې غواړم، کور دې ستا وي اوه. . . ما یوازې د کور پوښتنه کوله، چې په جګړه کې وران شوی که جوړ پاتې دی، نه یې غواړم، توبه مې ده ما پرېږدئ چې خپلو اولادونو ته ورشم، اوف ولې ولې،مه مې وهه مارکېټ؟ نه نه مارکېټ دې هم ستا وي، هغه قباله به ستا تر مخ وسوځم، نه نه هېڅ شی نه غواړم.
هغه خو وران شوی دی، اوه نه نه ما نه دي ویلي چې تاسې وران کړی دی، خوله مې دې ماته شي، واخ مه کوه.
اوبه راکړئ، تږی یم. اوه، اوبه، اوبه.
دا په ما څه شوي دي؟ دا ولې څه نه اورم؟ لکه چې د کلاشینکوف د قنداغ هغه اول ګوزار چې د غوږ خوا ته ولګېده کار کړی دی، دا څه سره وایي، زما په باره کې خبرې کوي، اوه دا غوږ مې ولې لوند دی، اوه وی‌ وی‌ دا خو وینې دي وینې.
هېڅ نه اورم یوازې غرهار دی، چې د ټانکونو دي، که د ټوپکو ډزونه دي؟ اوه هېڅ نه پوهېږم، که د قوماندان غږ دی؟
اوف اوف غوږ مې، اخ لکه چې نشته، اه دا زه چېرته یم، دا څه کوي، اوه دا ګوره، ټوپک ته مرمۍ تېروي که څه کوي.
له دا بل سره یې لکه چې جنجال دی، نه پوهېږم دا ولې داسې سره برګ شول لکه چې زما پر کور او مارکېټ یې سره جنګ دی، وګوره یو عادي ټوپکوال په جنرال وربلوسي، اوه زه هم عجیب سړی یم، اخر انسانان دې ولې داسې سره خوري اوه نه مې لوربږي، چې دوه انسانان د یو بل وینو ته کښېني.
واخ ملا مې، وای وای پښتۍ مې، اخ لکه چې ماته ده ها؟
واخ واخ ټول وجود مې درد کوي اخ دا ولې؟ په اصل کې زه پخپله ملامت یم ولې مې خبرې

وکړې، ولې مې ځان ورته وښود، چې زه څوک یم او د کوم ځای یم؟ ولې مې خپل ځای ورته وښود.

اوه دا زه چېرته یم؟. . . زه څوک یم؟ د کوم ځای یم؟

زه، زه یم؟ نه نه زه، زه نه یم، زه. . . زه. . . زه. . . زه. . . اه. . . زز ز. . . زه. . . زه نه یم. . . . ز

ز ز. ز . . . .ا ا ا. . . او. . . اوبه. . . او. . . اا. . . اوبه. . . اا. . . .

کابل وزیر اکبر خان مېنه

5/8/1382

## سوې نارې

جګړه چې له څو ورځو را په دېخوا روانه وه، وار په وار زیاتېدله، له دواړو خواوو د توپونو، ټانکونو او توغندیو پرله پسې ډزو پر خلکو خوب درولی و، په تېره د دواړو خواوو د الوتکو بمبارۍ چې د دوی په کورونو کې کېدلې ډېر وارخطا کړي وو، په تېرو ورځو کې د سیمې هغه اوسېدونکي چې له خپلې کورنۍ څخه پرته یې دلته ژوند کاوه او کورنۍ یې له جګړې څخه دمخه امن ولایتونو او بهرنیو هېوادونو ته لېږدولې وې، د شپې له خوا له سیمې څخه وتښتېدل خو هغو اوسېدونکو چې له خپلو کورنیو سره یو ځای دلته اوسېدل په دې دوو اوونیو کې و نه شوای کولای چې له سیمې څخه ووځي، ځکه دلته د خپلو بلاکونو لاندې په زېرزمینیو کې څه په امن کې وو، خو د وتلو په بهه کې یې د ژوندي پاتې کېدلو ډېر لږ امکانات موجود وو.

نن جګګړه د تېرو ورځو پرتله سخته شوې وه، الوتکو په پرله پسې ډول بمباري کوله له هرې خوا سرې ګولۍ بادېدلې په دې ټولو سختیو کې نواب له خپلې کورنۍ سره پخپل کور کې اوسېده، ځان یې پر خدای (ج) سپارلی و.

یوې خوا ته یې د تلو نیت نه درلود او نه یې په ښار کې داسې څوک لرل چې پناه

ورورېږي، ان تر دې چې د خپل بلاک زېرزمينۍ ته هم نه و کښته شوی، خو د نن ورځې جګړه هغه هم وارخطا کړی و، په تېره بيا کله چې يو توغندی د دوی د کور پر پخلنځي ولګېده او دوه کوټې يې سره يو کړې نو دی زيات وارخطا شو.
بې له دې چې د کور دروازه وتړي له خپلې مېرمنې او درېيو تنو اولادونو سره په بيړه زېرزمينۍ ته کښته شو. د دوی د اوسېدو بلاک د نورو بلاکونو په پرتله يو څه په امن کې و، ځکه چې د نورو بلاکونو په منځ کې واقع و، کله چې زېرزمينۍ ته ور کوز شول هلته د سر د لګېدو ځای هم نه و، ځکه د ټولې سيمې خلکو له خپلو کورنيو سره ځانونه دلته رارسولي وو.
دوی هم د خلکو په منځ کې ځانونه ځای کړل دلته ټول وړې، تږي ناست وو هېڅوک دباندې نه شوای وتلای، له هرې خوا د ماشومانو چيغې او ژړاوې اورېدل کېدې، تي خورو ماشومانو به ژړل او نورو ماشومانو به په پرله پسې ډول ډوډۍ، ډوډۍ چيغې وهلې، خو پلرونو او ميندو نه شوای کولای د دوی دغه غوښتنه ترسره کړي، په دوی کې داسې ماشومان هم وو چې پلرونه يا ميندې يې په جګړه کې وژل شوي يا ترې ورک شوي وو، چا له دوی سره مرسته هم نه شوای کولای، ځکه ټول وږي وو، ټولو ډوډۍ غوښته، ټول له يخنۍ څخه لرزېدل، ټول برېستن او کمپله غوښته، د روژې د مبارکې مياشتې اتمه ورځ وه په دغو کسانو کې داسې خلک هم وو چې درې څلور ورځې يې روژه نه وه ماته کړې.
نواب د جنګ په لمبو کې خپل کور ته ننوت، څه چې يې په کور کې لرل زېرزمينۍ ته يې راوړل او پر ځينو ناستو کسانو يې ووېشل، خو کاشکې چې نه يې وای رواړي، د ډوډۍ په ليدو سره ټولو د ده پر خوا را منډې کړې او ډوډۍ يې سره خوله خوله کړه.
ډوډۍ ډېرو لږو کسانو ته ورسېده، له دې سره د خلکو او په تېره د ماشومانو فريادونه لا زيات شول، هر يوه به د ډوډۍ غوښتنه کوله، خو د دوی دغې غوښتنې ته هېڅا ځواب نه شوای ويلای او هېڅا هم څه نه شوای ويلای.
يوازې به يې ساړه اسوېلي وکښل او له ځانه سره به يې څه وويل. د دوی دغه اوازونه

يوازې د توپونو په ډزو سره بدرگه کېدل.
هغه ډېره وحشتناکه شپه وه، له هرې خوا د ډزو غږ راته، د سلواغې میاشت وه، واوره اورېدله او سوړ باد چلېده.
د توپونو او توغندیو ډارونکي او د باد لرزوونکي غږ هغې تیارې ته نوره هم وحشتناکه بڼه ورکوله، هغه شپه او تر شپې تیاره ورځ په همدې ډول تېره شوه. د ورځې هم جگړې دوام درلود، چا د ساه ایستلو توان او وخت نه درلود، کابل په تورو دودونو کې پټ و، له هرې خوا د اور سرې لمبې را پورته کېدلې او تورو دودونو د ښار فضا نیولې وه. دویمه شپه په همدې ډول جگړه روانه وه، د توپونو او توغندیو ډزو به جگړه لا نوره هم پسې زیاته کړه، د ځېرزمینۍ په اوسېدونکو باندې نور د لوږې له لاسه طاقت درېدلی و، ټولو فیصله وکړه چې د سپېدو په وخت کې به له دې دوزخي سیمې څخه وځي.
دوی ټوله شپه همداسې تېره کړه، یوه هم خوب ونه کړ، ټول د رڼایۍ په هیله ناست وو،خو رڼا له کومه کېده، رڼایي خو ټولو غوښته خو رنایي نه وه او رڼا یوازې د توغندي په میل کې تر سترگو کېده او بس.
هلته تیاره وه، لوږه وه، جگړه وه او نا امیدي، ټول هک پک ناست وو او د توغندي له هر ډز سره به په وارخطایۍ سره له خپل ځای څخه پاڅېدل او د یوه نیم له خولې خو به چیغه هم ووته.
د توغندیو او ټانکونو گولۍ یوې او بلې خوا ته تېرېدې، د توغندي یوه گولۍ مخامخ پر ځېرزمینۍ ولگېده، تور دود جوړ شو، چیغې او فریادونه او د ماشومانو او ښځو ژړاوې راپورته شوې، هېڅا هېڅوک نه لیدل، دا هم معلومه نه شوه چې د توغندي د لگېدو له امله څه پېښ شول. خو لکه چې ټول په یوه غږ وي هر یوه کوښښ کاوه چې له نورو دمخه له ځېرزمینۍ څخه ځان وباسي، هـــر یوه خپل کوچنیان په غېږو کې واخیستل او په نامعلومه لوري د نامعلوم برخلیک پر لوري په توره شپه کې وخوځېدل، له بلاک څخه دباندې له یوه څخه د بل پته ورکه شوه، دا معلومه نه شوه چې څوک

ژوندي لاړل او څوک د توغندیو خوراک شول، دلته پر سرکونو لا وینې ډنډ ولاړې وې او په هره شېبه کې به دلته راکټ لګېده خو تر ټولو د نواب بخت بیدار معلومېده، هغه یو کوچنی زوی په ملا پورې تړلی او بل یې په غېږ کې نیولی او له یخنۍ څخه په کالیو کې پټ کړی و، په بیړه روان و.
اوس نو هغه د خطر له ځای څخه راوتلی و، خو هغه بیا هم په ستړې ساه منډې وهلې او د ښار د شمال لویدیځ لوري ته په حرکت کې و، نه پوهېده چې چېرته لاړ شي، دلته یې څوک خپلوان نه درلودل، د ده د یوه کلیوال کورنۍ چې په دې سیمه کې اوسېدله لا پخوا د جګړو له امله کډه کړې وه او نور یې هېڅوک نه لرل چې هلته ورشي. د سهار د لمانځه پر وخت هغه دې ځای ته چې د ښار د جګړه ځپلو سیمو نور خلک به هم دلته راتلل راورسېدل او مخامخ یوه ښوونځي ته لاړ، خو دلته د ده په شان په زرګونو مهاجرین اوسېدل، د سر د لګېدو ځای هم نه و،هغه چې ډېر ستړی شوی و او نور یې د تلو توان په ځان کې نه لیده ښوونځي ته نژدې یوه جومات ته لاړ.
هلته هم همدا حال و، خو جومات لوی و او د خلکو هم پرې زړه وسوځېده، ده له خپلې کورنۍ سره هلته واړول، په سترګو کې یې د خوښۍ او بري نښې برېښېدې، خپل یو کوچنی یې پر مځکه کښېښود او بل یې له اوږو څخه چې په څادر کې یې تړلی و را خلاص کړ، څادر یې پرانیست چې خپل زوی ته له جګړې څخه د خلاصون او امن ځای ته د رارسېدو زېری ورکړي او د هغه په لیدو سره خپل مات زړه ته تسل ورکړي، خو د څادر په پرانیستو سره د هغه له خولې چیغه ووتله مېرمنې یې هم چیغې کړې.
_اه څه وشول لکه چې مخ مې تور شو، زوی مې مړ شوی . . .
_نه کاشکې مړ وای!
_څه؟ کاشکې مړ وای؟
مېرمنې یې چې کوچني ته وکتل په چیغو او نارو یې پیل وکړ،کله یې چې له دا بل کوچني څخه پټو لیرې کړ، بیا هم همداسې انګولا جوړه شوه .خلک پرې ور ټول

شول، هغوی دوی دواړو ته حیران حیران کتل، ماشومانو چې د دوی ژړا ولیده هغوی هم په ژړا پیل وکړ.

نواب خپلې مېرمنې ته مخ واړاوه:

_نو زموږ اولادونه به چېرې وي؟ اه خدایه دوه زامن دواړه ورک، نو دا پردي ماشومان به څه کوو، د دوی پلرونه به چېرې وي؟

اه خدایه اه خدایه.

پکتیا زرمت

19/11/1373

# غنیمت

له کله نه چې زه د قوماندان میر علي په ګروپ کې شامل شوی یم ارامه ورځ مې نه ده لیدلې، خو هغه ورځ مو تر ټولو ورځو سترې تېره شوه، نیمه شپه له خوبه پاڅېدو او د قوماندان صاحب د هدایت سره سم نژدې کارخانې ته ولاړو، د کار خانې اوسپنې مو په کاماز موټر کې له ښار څخه وایستلې او خرڅې مو کړې بدبختي دا وه چې د کارخانې ماشینونه په ځمکه کې ښخ شوي وو، له ځمکې څخه یې ایستل اسانه کار نه و، موږ مجبور شوو چې د ماین په واسطه ماشینونو ته انفلاق ورکړو او اوسپنې یې ولېږدوو، تر غرمې پورې مو وکړای شوای چې د کارخانې ټولې پاتې اوسپنې د خپل مطلب ځای ته ولېږدوو، کله چې د غه دنده په بریالیتوب سره سرته ورسېده او قوماندان ته مو رپورټ وړاندې کړ، هغه بلې دندې ته موظف کړو لکه چې قومندان صاحب میرک همدا ورځ غنیمت ګڼلې وه تر مازدیګره مو د یوې دولتي موسسې

غالۍ، میزونه، یخچالونه، بادپکې او چوکۍ د قوماندان دوهم کور ته چې له ښاره بهر واقع دی ولېږدول، د ماښام لخوا مو وظیفه لرله د وزارت جنسونه راوړو، دغه دنده یو څه درنده وه ځکه په هغه وزارت کي ډېر جنسونه موجود و، او تر اوسه پورې لا چور شوي نه و، د دې احتمال موجود و، چې د بل قوماندان نفر هم د هغو د وړلو نیت ولري ځکه یې نو زموږ په ډله کي نور اعتمادي نفر هم را زیات کړل د ماښام له اوو بجو څخه به څه وخت تیر شوی و، چې موږ هغه وزارت ته ورسېدو د وزارت د ودانۍ ځینې دفترونه د برېښنا په وسیله روښانه شوي و، مزو ته د چا پام نه و او برېښنا په ښار کي موجوده وه د وزارت نور دفترونه تیاره وو، خو موږ له ځان سره هر څه لرل درندې وسلې، لاسي څراغونه او کاماز موټرونه.
کومه ستونزه مو نه لرله، داسې مالومېدل چې په وزارت کي څوک نشته یوازې د نوکریوالۍ په کوټه کي څو تنه وسله وال سړي ناست و هغوی دومره ټلوېزون ته متوجه و، چې زموږ په ورتګ خبر هم نه شول، بې ځنډه مو د هغوی لاسونه وتړل په ټلوېزون کي خبریال له چا سره مرکه درلوده زموږ قوماندان میر علي خان و موږ ټول د هغه خبرو ته غوږ کېښود.
موږ برسېره پر نورو امنیتی دندو چې په پوره بریالیتوب سره مو سرته رسولې دي په ښار کي د نظم د راوستلو په برخه کي هم زیات فعالیتونه سرته رسولي دي، تر اوسه مو پنځه ویشت تنه غله د قانون منګولو ته سپارلي د دولتي موسسو د ساتلو لپاره مو ګرځند ګروپونه جوړ کړي د بیت المال څخه مو په کلکه دفاع کړې ده او په سر او مال مو د خلکو د شتمنیو او د بیت المال ساتنه کړې او په دې . . .
خو موږ نور وخت نه درلود چې په ټلوېزون کي د قوماندان میرک خبرې واورو ټلوېزون مو په څادر کي ونغښت او له نورو سامانونو سره مو یو ځای د قوماندان صاحب کور ته انتقال کړ.

پکتیا زرمت

11/11/1373

# وروستۍ شپه

د ځیرې لرګیو کراچۍ یې په ډېر کړاو کشوله، کراچۍ درنده وه پر مخ یې خولې را ماتې وې دواړه څپلۍ یې له پښو ایستلې او د کراچۍ دمخې په لرګیو پورې یې تومبلې وې او پایڅې یې بډ وهلې وې، په ستمې سره یې کراچۍ د لویې پولادي رنګه دروازې مخې ته ودروله.

بخت جمال پخپل دسمال خولې پاکېګ کړې، د کور دروازه یې وټکوله دېواله ته یې ډډه ووهله، د کور دروازه یوې نجلۍ خلاصه کړه، په ځیر ځیر یې جوالي ته وکتل بخت جمال په یوه خلي په خاورو کې د ګڼو وډوکړښو په کښلو ځان بوخت کړ.

نجلۍ دروازه په درز سره وتړله، څه شیبه وروسته یو چاغ سړی راووت په تروه تندي یې جمال ته وویل:

_هن رادې وړه ډېر ناوخته شوې ماسکه ویل چې په بله ولاړې.

_درنه وه په لاره مې څو ځایه ساه جوړه کړه.

_نو څه ته ماتل (معطل) یې، شورو.

بېرته کوټې ته ننوت، کله چې جمال ټول لرګي ځای پر ځای کړل د کور خاوند بیا راووت، څو نوټونه یې ور حساب کړل، بخت جمال پیسې تر حساب تېرې کړې ورو یې وویل:

_دا خو شپږ زره دي.

_نو شپږ لکه وای؟

_نه ما او تا خو هلته په لس زره سره فیصله کړه او بیا مې دا ټول پنځوس منه لرګي په کور کې درته ځای پر ځای کړل دومره خو مې. . .

د کور خاوند په غوسه شو:

_که تا لس زره ویلي ما هم شپږ زره درته ویلې وې ځه خپله خوارې دې کوه او له دې سره یې دروازه وتړله.

بخت جمال هک پک ودرېده، بېرته د اوړو د منډوي پر لوري روان شو.

په منډوي کې یې له نانوایۍ څخه یوه ډوډۍ راواخیستله سیوري ته یې ژر ژر وخوړه، پیسې یې له جېبه راویستې حساب یې کړې یاو، دوا، درې، څلور، پنځه... ټولې اته زره افغانۍ وې له ځانه سره یې وویل:

_ډېرې کمې دي په ټوله ورځ کې اته زره، ځان ته یې ډاډ ورکړ:

_ځه خدای مهربانه دی، ماښام ته لا وخت شته که دغومره نورې وګټم د نن شپې د وچې ډوډۍ پیسې کېږي.

یوه پاڼه کاغذ یې له جېبه څخه راویوست د انګلیسي څو لغاتونه یې پکې لیکلي وو، کاغذ ته یې وکتل بېرته قات کړ او له ځانه سره یې څه وویل، کاغذ به یې بېرته پرانیست تر نظر به یې تېر کړ تر شونډو لاندې به یې لغاتونه له ځانه سره تکرار کړل.

د سړک له بلې غاړې چا پرې غږ کړ:

_جوالي وا جوالي ایشت، دېخوا.

بخت جمال په بیړه ځان ور ورساوه، هغه سړي ورته وویل:

_دا یوه بوجۍ اوړه، وریجې، یو پیپ غوړي او یو کارټن منې تر مکروریان کهـــنه پورې په څو وړې؟

بخت جمال زړه نا زړه وویل:

_دوولس زره.

_ډېرې نه دي؟
_شپږ ورې ډوې پې کېږي، اوغانۍ څه ته راغلې.
_ښه څه یو یې سه، خو دوم منزل ته به یې هم پورته کوې.
د کراچۍ د یوه ټایر هوا کمه وه، نژدې د هوا ورکولو کوم دوکان هم نه تر سترګو کېده بخت جمال په سختۍ سره کراچۍ تر مکروریانو ورسوله.
بخت جمال د هغې ښکلې نجلې په لیدو چې د کور دروازه یې پرانیستله ترولی (تلولی) شو، نژدې و لاس ورکړي، خو ژر یې پام شو، د غوړو پیپ یې چې د مېوو پر کارتن برسېره ایښی و، را کوز کړ ده ته داسې معلومه شوه چې دا نجلۍ یې چېرې لیدلې ده. لکه کومه ورکه یې چې بیا موندلې وې او اوس یې باور نه کېږي، چې داسې اسانه دې په لاس ورغلې وې، په خپل ذهن کې یې د ورکو خاطرو پلونه تعقیبول، د خپلو خوبونو په کوڅو کې پسې ګرځېده، خو دا انځور یې تر سترګو نه شو.
داسې یې وښودله چې لار ښوونې ته منتظر دی.
ورسره راغلي سړي وویل:
_فرحنازې دا دی سودا مې راورسوله، زه بېره لرم دا جوالي به یې ځای پر ځای کړي، د خدای پامان.
جمال په زړه کې د سړي په تلو خوشحاله شو، د اوړو بوجۍ یې په دهلېز کې کښېښوده فرحنازې ورته وویل:
_نا دلته نه، پخلنځي ته یې یوسه.
جمال ټولې بوجۍ او کارټنونه په پخلنځي کې ځای پر ځای کړل زړه یې و چې نور هم پاتې شي، خو د پاتې کېدو کومه بهانه نه وه.
نجلۍ خواږه خواږه ورته کتل. ویې ویل:
_کرایه دې څو شوه؟
_فرق نه کوي.
_نه ووایه هسې نه چې لږې درکړم.

_دوولس زره.
فرحنازې د سالون له الماری څخه دوه لس زرګون نوټونه را واخیستل.
جمال پاته پیسې بېرته ورکړې، نجلۍ نه غوښتل، خو ده اته زره افغانۍ د اشپزخانې د مېز پر سر ورته کېښېښودې، زړه نا زړه راووت فرحنازې له شا پسې غږ کړ:
_دلته راشه.
جمال چې د دویم پوړ په زینو را کوز شوی و، بېرته ور وګرځېده فرحنازه په سوچ کې ولاړ وه لکه چې خپله خبره یې هیره شوې وي بیا یې ورو ورته وویل.
_راځه دننه.
فرحنازه له مخې او جمال ورپسې کور ته ننوتل، نجلۍ د سالون پر ځای پخنلځي ته لاړه، خو جمال په دهلېز کې ودرېده، فرحنازې له برنډې پرې غږ کړ:
_ولې لاړې، دلته برنډې ته راشه .
فرحنازې په برنډه کې پراته ناکاره لرګي او اوسپنې ورته وښودلې، ویې ویل:
_دا ناکاره شیان به څو په دواړو برنډو کې ځای پر ځای کړې؟
_فرق نه کوي، دا دومره کار نه دی، بې پیسو به یې وکړم.
_نه نه مزدوري دې روایه.
پیسې یې نه اخلم، چې ته وایې نو دوه زره روپۍ.
او له دې سره یې لستوني راونغښتل، فرحنازې وخندل.
_اوس نه، نن ناوخته دی سبا، سبا په لس بجې.
جمال چې له کوره راووت هغې بیا پرې غږ کړ:
_سبا پوره په لس بجې ګوره چې هېر دې نه شي، د پیسو غم مه کوه.
جمال په هغه شپه خوشحاله معلومیده، ستړیا خو یې بیخې هېره وه، د نورو شپو پر خلاف یې نه پښنو سوی کاوه نه هډوکو درد، او نه یې هم د نورو شپو په څېر څنګلې غوړې کړې، ځان داسې ورته معلومېده چې نن یې هیڅ کار نه دی کړی.
نورې شپې به چې له کاره راغی ستومانه او نارامه به و، او د هډوکو له درده خو به

خوب نه ورته، نن هم نارامه و، خو دغه نارامي يې څه بل ډول وه، شپه يې کله په خوب کله په ويښه تېره کړه، سهار له خپله ځايه را ولاړ شو، لمونځ يې ادا او بې غمه په چاى سوررولو بوخت شو، مور يې ورته وويل:
_جماله زويه نن لکه چې کار ته نه ځې؟
_ادې مه خپه کېږه، نن کراچۍ نه ولم، بله مزدوري مې پيدا کړې ده ناوخته ورځم.
پر جمال ورځ نه تېرېده د انګړ په پټيو کې د ګلانو په منځ کې کېنوست، کله به يې يو ګل په لاس کې ونيو او ترې لاندې ځمګکه به يې وخرله او بيا به ډېر ځنډ د بل ګل په کتلو بوخت شو، لکه چې د هغې ښکلا په ګلانو کې لټوي، په نه نيمو بجو د فرحنازې د کور پر لوري روان شو، له مخامخ تنګې کوڅې ووت په څلور لارې کې د مېوې اوبو خرڅولو د کراچۍ څنګ ته تر ونې لاندې څو شېبې ودرېده.
پرون ورځ يې له سترګو يوې بلې خوا ته ورته کېدله، د فرحنازې کتل څه چې تر سترګو لاندې يې پټ_پټ څارله بل ډول ورته ښکاره شو، تمامه شپه يې د هغې په باب په سوچونو سبا کړې وه، خو د هغې کاته يې نه و تللي.
دا کتل داسې ورته وبرېښېدل لکه يو قصاب چې ورى په پيسو رانيسي ورى ښه چاغ او مزى وي، خو قصاب وېرېږي چې ورى پشيرله دى او د عمر د کموالي له امله به يې غوښه وزن وبايلي، قصاب يې په ملا لاس کېږدي د خريدار په سترګو ورته وګوري، په جېب لاس ووهي، خو لکه چې پر خپلو پيسو يې زړه نه کېږي ورى را پورته کړي وزن يې کړي بېرته يې پر ځمکه کېږدى، ورى هم په نوره رمه کې ګډ شي.
جمال ته د فرحنازې د پرونيو کتلو تول ستونزمن و، دا کاته د مينې کاته و، د کرکې و او که د سپکاوي کاته؟
هېڅ نه پوهېده.
پخوا به چې چېرته داسې يو کار ورته پيدا شو، په تېره بيا چې د درندې کراچۍ له کشولو به هم خلاص و، په ډېره مينه به يو ساعت دمخه هلته حاضر و، خو نن؟
جمال د ونې يو ښاخ راونيو يو وچ خلى يې ترې مات کړ هسې يې پخپلو غاښونو

تېراوو راتېراوو خلی يې هيسته غورځار کړ له ځانه سره يې وويل:
_نه پوهېږم هغه ما ته په کومه سترګه ګوري، غريب جوالي؟ هسې بې کوره بې اوره مزدور؟ که مين؟
د لمر سترګې ته يې په نيمکښو سترګو وکتل.
_زه خو د لمر په سترګو ورته ګورم، خو هغه له ما همدومره لري او لوړه ده لکه د لمر سترګه.
خپلې زړې جامې يې يو ځل بيا تر نظر تېرې کړې.
ښايي د هغې د پرونۍ وروستۍ مهينې موسکا اغېز به و چې جمال په ګړنديو ګامونو د زړو مکروريانو پر لوري روان شو، په لومړۍ زنګ د کور دروازه پرانيستل شوه، فرحنازې هغه د پخلنځي د برنډې پر ځای د خوب کوټې ته بوت.
جمال پر تخت غلی ناست و د خپل کار او مزدورۍ په فکر کې و چې څه وخت يې پيل کړي او څه ډول يې ياده کړي.
فرحنازه لکه چې د ده په سوچ پوهېدلې وي، په داسې حال کې چې له لوېې لرګينې الماري څخه يې د وچې مېوې قابونه پر مېز ځای پر ځای کول وويل:
_کارونه به له خيره سبا کوو، نن به يو د بل له حاله ځانونه خبر کړو.
د هغې دې خبرو جمال هم پر خبرو راووست او د هغې د ژوند په باب يې پوښتنې پيل کړې.
فرحنازې شمېرلی_شمېرلی ځواب ورکړ:
_مورږ په جګړو کې له وطنه ووتو، اوس په کلفورنيا کې اوسو زه او ورور مې راغلي وو، چې خپل جايدادونه خرڅ کړو ورور مې اوس اسلام آباد ته تللی دی.
دواړو يو بل ته خپلې خاطرې بيان کړې مجلس يې ورو_ورو په ټوکو ټکالو بدل شو، يوه نيمه خبره به يې په انګليسي کوله، خو جمال به ژر خپلې ژبې ته راواوښت ځکه د فرحنازه د انګليسۍ په زياترو خبرو نه پوهېده، داسې معلومېدل لکه چې له ډېر پخوا نه سره پېژني او وروسته له ډېرې مودې سره يو ځای شوې وي، دواړه پر يوه تخت

ناست و، یو د بل خبرې یې دومره په مینه اورېدلې لکه چې پخوانۍ خاطرې یې ورپورې تړلې وي یو د بل په کتو کې ورک وو، نور یې هر څه هېر و لکه چې یوې بلې دنیا ته تللي وي، د بې خودیو او خوبونو یوې ناآشنا دنیا ته.
په کړکېو سرې پردې راخورې وې، دوی د وخت په تېرېدو نه وو پوهېدلي د مازدیګر لمر په غرغړو و، فرحنازې په خوبولي غږ جمال ته وویل:
_د ماما د راتلو وخت دی، ته خپل کور ته ولاړ شه، زما او ستا وعده بیا پر هغه وخت ده.
جمال لکه چې له یوه درانه خوبه راویښ شوی وي.
ورو_ورو د کور پر لوري وخوځېده، پر لاره پښېمانه معلومېده له ځانه سره یې وویل:
_یوه نشه وه والوته، مور ته به څه وایم خور او ورور به مې ډوډۍ غواړي، د نن د مزدورۍ پیسې به غواړي، څو ځله یې په زړه کې وروګرځېدل، چې په ګڼه ګوڼه کې د چا جېب ووهي، د سرک بلې غاړې ته واوښت په تمځای کې د خلکو په ګڼه ګوڼه ورګډ شو، یو کلیوال سړی یې تر نظر لاندې ونیو تر څنګ یې روان شو هغه سړي له لویې کراچۍ څخه منې واخیستلې د پنځه زره ګونو نوټونو له بنډل څخه یې پنځه نوټونه ورحساب کړل، بنډل یې بېرته د څنګ په جېب کې کېښود جمال ښه ورنږدې شو تر سترګو لاندې یې پټ_پټ څاره، اوس نو لاس د هغه جېب ته رسېدلی و د سترګو له کونجو یې د هغه سترګو ته وکتل کلیوال پر سړک تېرېدونکو موټرو ته کتل، جمال د جېب له پاسه د نوټونو بنډل په ګوتو کې ونیو، په زړه کې یې څه ور وګرځېدل خپل لاس یې سوکه ترې ایسته کړ، تمځای ته موټر راورسېده کلیوال د موټر پر خوا منډه واخیسته.
جمال په بېړه له ګڼې ګوڼې راووت، زړه نازړه د کور پر لوري روان شو، د کوڅې له دکاندار ډګروال انارګل څخه یې لس زره افغانۍ په پور وغوښتلې ډګروال کتابچه را واخیستله ویې خندل.
_وایي ځاځی پور غواړي توري لا نور غواړي ستا قرضونه زیات شوي دي، ها دا

پنځه زره واخله.
جمال ماښام ناوخته کورته ورسېده، دروازه یې مور پرانیستله په لیدو یې خوشحاله شوه ویې ویل:
_ما در جار کړې زویه ځومره، ناوخته شوې لکه چې بیا د کوم ظالم مالدار په لاس ورغلی وې؟
_هو مورې ډېر ظالم تر ظالمانو ظالم، کار یې راباندې وکړ مزدوري یې را نه کړه.
_وی ولې؟
_چې کار ختم شو د کور مشر نه و، ویل یې سبا به یې درکړو څه کار نور هم.
مور یې له اسویلې سره وویل: زویه مور د وږي له حاله څه خبر دی.
بخت جمال له تخرګ څخه دوه نیمې ډوډۍ را وایستلې او مور ته یې ورکړې.
مور یې ورته وویل:
_جلال او ګل جمعه وږي ویده شوو، ډوډۍ په دسترخوان کې کېږده زه به چای تیار کړم.
سبا وختي جمال خپله کراچۍ راوایستله مور یې په دروازه کې ترې پوښتنه وکړه:
_کراچۍ دې ولې راوایستله پرونۍ مزدورۍ ته دې نه ځګې؟
_ادې نور نه ورځم داسې کارونه زموږ خوارانو لپاره نه دي او له دې سره د کور له دروازې ووت.
د لمر وړانګې په کوټه کې د فرحنازې پر تخت لویدلې وې چې دا له خوبه را ویښه شوه، خپلې سترګې یې وموښلې، زلفې یې پر اوږو ګډې وډې پرتې وې، په لاسونو یې شا ته واړولې ګړۍ ته یې وکتل له ځایه را ولاړه شوه د کوټې په سهیلي کونج کې په الماری کې په ایښي ټایپ یې کیسټ کېښود، یوه بهرنۍ سندره وه، دې هم تر شونډو لاندې ورسره زمزمه کوله.
د تخت روجایي او کمبله یې ټول کړل، بیا د الماری خوا ته ولاړه کیسټونه یې سره واړول راواړول یو کیسټ یې پر ټایپ کېښود یو ځل یې مخې ته تېر کړ، بېرته یې پر

بله خوا واړاوو، مخې او شا ته یې تېر کړ د خپلې خوښې په سندره پسې ګرځېده سندره یې پیدا کړه سرته یې کړه.

د ملنګۍ جامو کې ځنګ ته و راغلی لالی

لکه ماشوم مې و سینې پورې نیولی لالی، نازولی لالی

ټایپ په لوړ اواز سندره غږوله فرحنازې هم تر شونډو لاندې زمزمه کوله، ځینې_ځینې ټپې به یې تر ټایپ دمخه ویلې بلې کوټې ته ولاړه، دلته د ټایپ غږ اورېدل کېده خو دې لا هماغه سندره ویله:

د ملنګۍ جامو کې ځنګ ته و راغلی لالی

د جامو الماری ته ودرېده جامې یې راوسپړلې څو کمیسونه یې پر یو بل مخ واړول، ګلابي رنګه کمیس یې خوښ کړ شاوخوا یې وکتل، لکه چې ډاډه نه وي چې په کور کې یوازې ده د خپل کمیس تنۍ یې ورو_ورو خلاصې کړې، کمیس یې په کوټېند راوځړاوه نوی ګلابي کمیس یې واغوست هندارې ته مخامخ ودرېده خپلې ګستاخې زلفې یې چې پر مخ او ټنډه پرېشانې پرتې وې په کاوړ سره شا ته ځنډ وهلې، بیا یې دواړه لاسونه شا ته واړول خپلې زلفې یې داسې ټینګې پرې ونیولې لکه چې سزا ورکوي.

د سینګار له بکس څخه یې د شونډو د رنګ څو ډولونه راواخیستل له جامو سره یې وکتل، یو یې خوښ کړ شونډې یې نورې هم هندارې ته نږدې کړې ژر_ژر یې شونډې سرې کړې، د شونډو رنګ یې الماری ته ور خطا کړ.

په هنداره کې یې ځانته په ځیر_ځیر وکتل پر خپل ځان یې مینه راغله، پر دېوال ځوړند ساعت ته یې سترګې ور پورته کړې، سندره یې تر شونډو لاندې زمزمه کوله، د سینګار شیان یې په الماری کې ځای پر ځای کړل، یو ځل بیا یې هندارې ته وکتل شونډې یې سره وښورېدې لکه چې خپله ښکلا یې ستایله داسې ښکارېدله لکه غوټۍ چې نوې ګلان سپړلي وي، سرو اننګو یې یو ډول ځانګړې رڼا کوله.

پر دېوال راځوړند ساعت ته یې بیا وکتل ساعت ټیک لس بجې وې، د پېغلتوب جذباتو

يې پر وجود لمبې بلې کړې وې، يو ځای يې هم ټيکه نه کېدله کله به يوې کوټې ته ولاړه کله بلې ته له کړکيو به يې د بلاک مخه وڅارله، زړه به يې طاقت ونه کړ، برنډې ته به ولاړه د نظر نيلی به يې يوې او بلې خوا ته وزغلاوه، د بلاک تر څنګ پر سړک خلک تېرېدل را تېرېدل، پر هغه چا يې چې سترګې خوږېدې ويې نه ليد، نا اميده بېرته کوټې ته راستنه شوه او د خوب پر تخت پړمخې پرېوتله، بېرته راجګه شوه کړکۍ ته ودرېده په داسې حال کې چې د باندې يې کتل له ځانه سره يې وويل:
_لکه چې رانه غی خپل بخت يې پخپله په لغته وواهه او هماغسې جمال پاتې شو.
د هينداري خوا ته ودرېده بې له دې چې په هنداره کې خپل ځان ته وګوري بېرته د خپل تخت پر لوري را راوانه شوه او هماغسې د خوب پر تخت پړمخې پرېوتله.
بخت جمال د خپلې زړې کراچۍ څنګ ته ډډه وهلې وه او هغو موټرونو ته يې په حسرت کتل چې د زړو مکروريانو پر خوا روان وو غرمه را نږدې وه خو ده لا تر اوسه يوه روپۍ هم نه وه ګټلې، د وريجو او غوړيو د دوکان مخې ته په سمتې چوتره داسې پرېووت لکه چې ټوله شپه و ورځ يې کراچۍ چلولې وي، دوکاندار د غرمې لپاره د دېګ په پخولو لګيا و د غوړو او پيازو بوی خوږ پرې ولګېده او ترق تروق يې د خوندورې او په زړه پورې موسيقۍ په څېر د ده غوږونه نازول ښه ساعت هلته پرېووت، د فرحنازې کور ته په نه ورتګ پښېماني ورغله خپل ځان ته يې قار راغی په زړه کې يې ځان ته بد رد وويل، ژړا ته يې زړه کېده په زړه يې د فرحنازې د ياد لمبې بلې وې.
يو کوچنی کتاب يې له جېب څخه راوايست پاڼې يې واړولې راواړولې، بېرته يې د خپلې زړې کورتۍ په جېب کې کېښود کراچۍ يې پر سړک روانه کړه تر ماښام پورې يې دوه ځايه بار يوړ، شپه يې هم په سوچونو کله په وينښه کله په ويدو سهار کړه.
سهار وختې يې کراچۍ راوايسته د منډيي پر ځای د زړو مکروريانو پر لوري وخوځېده، د يوه پېژندوی دکاندار د دکان د سيوري له لرګي سره يې خپله کراچۍ

وتړله.
د زړو مکروریانو پر لوري په ګړندیو ګامونو روان شو.
له درې څلور پرله پسې زنګ وهلو وروسته فرحنازه راووتله:
_او ته؟
بخت جمال د فرحنازې له څېرې وپوهېده چې څومره ترې ګیله منه ده، له واره یې وویل:
_پرون مې وړوکی ورور ناروغ و، شپه مې هم په شفاخانه کې ورسره تېره کړه.
فرحنازې په موسکا وویل:
_د غریبانو بخت کله_کله راویښېږي، چې بخت یې را ویښ شي هغه وخت بیا دی پخپله ویده وي.
بخت جمال سره له دې چې پخپله ژر جوړه شوې بانه خوشحاله و خو بیا هم په نه راتلو خجل و، خبرې یې ورو او له احتیاطه ډکې وې داسې لکه چې نوي سره آشنا کېږي او تر منځ یې هیڅ هم نه وي تېر شوي.
فرحنازې خپله خوشحالي ورسره شریکه کړه:
_ورور مې له اسلام آباده احوال رالېږلی کارونه خلاص شوي دي، بله هفته به له خیره سره ځو.
_یعنې چې ما هغسې د هوا په مرغانو پورې زړه تړلی دی؟
فرحنازې ډاډ ورکړ:
_نه داسې نه ده، د هوا مرغان هم د ځمکې په ګلانو پورې زړه تړي.
غم مه کوه ما ستا لپاره هم یو ښه پروګرام جوړ کړی دی.
_څنګه؟
_بس که خیر و، ګډ به ځو، په پاکستان کې به ستا سندونه هم جوړ کړو، بیا به یو ځای او یا وروسته وړاندې سره ځو.
بخت جمال په نا باورۍ وویل:

_امریکا ته؟
_هو نو، په دې خاورو او دوړو مې نه لوربږي دلته څه دي په امریکا کې به د ژوند په خوند پوه شي.
بیا یې په کلفورنیا کې د خپل ورځني ژوند خوږې کیسې په خوند سره ورته وکړې
بخت جمال پوښتنه وکړه:
_نو نوره کورنۍ به مې څنګه کېږي؟
_ای ساده ګله چې امریکا ته ورسېږي په یوه میاشت کې به دې ټوله کورنۍ او ان نور خپلوان هم په امریکا کې وي، فرحنازې د بخت جمال ځواب ته ونه کتل تر تخت لاندې له تور بکس څخه یې د پاکستانۍ کلدارو دوه زرګون نوټونه هغه ته ورکړل ویې ویل:
_وخت لږ پاتې دی، په دې پیسو ځانته جامې او دریشي واخله، او سبا به دواړه ښار ته لاړ شو، څه سودا زما هم په کار ده.
بخت جمال پیسې نه اخیستلې، پر خپلو جېبونو یې لاسونه تېرول داسې یې ښودله چې زیاتې پیسې لري، خو فرحنازې یې په زور په جېب کې پیسې ور واچولې:
_واخله په دې کېسو پسې مه ګرځه!
موسکۍ شوه پسې زیاته یې کړه:
_اوس به پوه شې چې ژوند څه معنا؟
بخت جمال نه پوهېده چې دا دومره نېکمګرغي څنګه پر یوه ځای ورته راغله، پر لاره پر ځان نه پوهېده د سړک پر منځ روان و، د فرحنازې خبرې یې ځو ځله له ځانه سره تکرار کړې:
_اوس به پوه شې چې ژوند څه معنا؟ رښتیا چې د خوارانو بخت کله_کله راویښېږي، ویې خندل لږ په لوړ غږ یې وویل:
_او د بخت جمال بخت له جمال او ښکلا سره یو ځای راځي.
لومړی دکاندار ته ورغی خپله کراچۍ یې پر هغه وسپارله چې ویې پلوري، په ښار کې

يې د يو جوړ جامو رخت راونيو د دريشي اخيستل يې د فرحنازې خوښې ته پرېښودل په بيړه کور ته لاړ، پر خپله مور يې د خپلې راتلونکې نېکمرغۍ زېرى وکړ مور ته يې ټوله کيسه سر تر پايه تېره کړه.
مور يې په ناباورۍ وويل:
_زويه موړ او امريکا ډېر سره ليرې يو، خپله مزدوري دې کوه، دا ښځه به دې له خوارۍ وباسي هسې نه چې ودې غولوي.
_اخر هغه څه ضرورت لري، چې ما وغولوي.
_مور يې په نصيحت وويل:
_زه هم همدا وايم چې هغه موړ ته ضرورت نه لري.
بخت جمال د شپې تر ناوخته له خپلې مور سره په دې باره کې خبرې وکړې، مور يې هم راضگي شوه.
بخت جمال به د ورځې له فرحنازې سره يو ځاى و، ماښام ناوخته به کور ته راته، بخت جمال اوس ها پخوا بخت جمال نه و، نه يوازې په جامو بلکې په سلوک او ناسته ولاړه کې يې هم بدلون راغلى و، يوه اوونۍ په خوشحالى تېره شوه.
د جمعې په ورځ فرحنازه او بخت جمال دواړه د پېښور پر لوري روان شول، د پېښور په يو لوکس هوټل کې يې کوټه ونيوله.
د بخت جمال تذکره او عکسونه يې اسلام اباد ته واستول، دوى دواړه په پيگښور کې پاتې شول، د ورځې به يې په ښار کې سودا رانيوله او په پارکونو کې به يې چکرې وهلې، د شپې به هوټل ته راتلل د هوټل کارکوونکو هغوى ته د ښکلې جوړې نوم ورکړى و. کله- کله خو به يې د خوراک په مېنو او بلونو کې هم د دوى نوم ښکلي جوړه ليکل.
په پېښور کې يوه اوونۍ د سترگو په رپ کې تېره شوه، د شنبې په ورځ فرحنازه د لومړى ځل لپاره يوازې له هوټل څخه ووتله، په بخت جمال ورځ نه تېرېدله څو شېبې په هوټل کې د خپلې کوټې په برنډه کې کښېناست، هلته يې ټيکه ونه شوه بېرته کوټې

ته راغی، پر کټ اوږد وغځېده، سترګې یې پټې کړې، سره له دې چې بې خوبه و خو خوب ورنه غی.
دباندی هم وتلای نه شوای، هسې نه چې فرحنازه راشي او دی نه وي، په ژوند کې له داسې حالت سره نه و مخامخ شوی، لکه خپکۍ (خپسې) چې نیولی وي، ساه یې بنده بنده کېده، فرحنازه چېرته تللې ده؟ ولې یوازې لاړه؟ زه یې ولې له ځانه سره نه بوتلم؟ د دغو پوښتنو ځوابونو ځوراوه، ورځ یې په سوچونو تېره کړه، غرمه یې ډوډۍ ونه خوړله.
فرحنازه ماښام ناوخته راغله، د نورو ورځو په پرتله خوشحاله وه، خو د خوشحالۍ سبب یې بخت جمال ته تر پایه څرګند نه شو.
هغه شپه یې ډوډۍ د سالون پر ځای په خپله کوټه کې وخوړله، ډوډۍ هم د فرحنازې د سلوک په څېر بدله وه، بخت جمال د مېز پر سر زیاتره خوراکونه او بوتلونه نه پېژندل، ډوډۍ یې په خوند خوند وخوړله، تر ډوډۍ وروسته بخت جمال هم د فرحنازې په څېر خوشحاله و، د فرحناز په باب یې په زړه کې پټ شک او ناڅرګندې کېسې د مینې ځای نیولی و، د شپې تر ناوخته ناست و، فرحناز تر بل هر وخت ډېره مینه ناکه شوې وه، زړه یې نه غوښتل چې ژر ویده شي، بخت جمال د دې دومره مینې او شفقت ته حیران و، شپه پخېدله، دوی دواړو مجلس لا پسې تودېده شپه تر نیمایي تېره وه چې دواړو ویده شول.
په کوټه کې د لمر وړانګې پرتې وې، چې بخت جمال له خوبه را ویښ شو، فرحنازه یې تر څنګ نه وه، له ځایه راجګ شو، د حمام دروازه یې خلاصه کړه فرحنازه نه وه، پام یې شو چې د فرحنازې بکسونه هم کوټه کې نشته، په وارخطایۍ سره یې تر کټ لاندې وکتل، ژر ژر یې د الماریو دروازې پرانیستلې، هېڅ شی نه و، هک پک ودرېده، نه پوهېده څه وکړي.
د چپرکټ سر ته د کوچنۍ المارۍ پر سر پروت کاغذ یې را پورته کړ، د فرحنازې کوږو وږ لیک و:

ـ ګرانه!

تا رښتیا ویلي وو د هوا په مرغانو پورې زړه تړل د هوښیارو خلکو کار نه وي، سفارت له واده کولو دمخه ستا پر سندونو له غور کولو څخه ډډه کړې ده، نو زه مجبوره یم چې همداسې بې مخه ښې درنه لاړه شم، خدای پاماني مې بده اېسي همداسې درنه ځم، وروستۍ شپه به مې تل په یاد وي.

د خدای پامان

څارندوی مینه کابل

14/5/1374

# وینې په شیدو کې

. . .او دا هرڅه په یوه شېبه کې پېښ شول، د اختر په شپه هغه شپه د روژې د مبارکې میاشتې وروستۍ شپه او په سهار یې د کوچني اختر لومړۍ ورځ وه.

په هغه شپه نږدې ټول خپلوان سره یو ځای شوي وو ټول د معلم رضا کور ته راغلي وو، لکه څا چې رابللي وي د معلم رضا کشر ورور مصطفی، د تره زوی او دوه خویندې چې تر دې دمخه د ښار په بېلا بېلو برخو کې اوسېدل او پخوا یوازې د اخترونو او کله کله هم د جمعې په ورځو کې دلته راتلل، خو اوس دا څو ورځې لا دمخه له خپلو کورنیو سره پروان مینې ته راغلي وو.

په ښار کې له څو میاشتو راهیسې جګړه وه، د دوی د اوسیدو سیمې د جګړې مارو په مورچلونو بدلې شوې وې، دوی هم خپل کورونه او هستي پر ځای ایښي او ایله یې خپل سرونه د جګړو له سیمو را ایستلي وو.

پخوا به دوی په داسي ورځو کې د یوه او بل کورونو ته ورتلل او د خوشحالۍ ورځې به یې په ګډه سره تېرولې.
نن هم دوی ټول په یوه کور کې سره راغونډ شوې وو، خو نن شپه له نورو شپو سره توپیر درلود، نن د دوی په څېرو کې د خوښۍ کومه نښه نښانه نه تر سترګو کېدله، هغوی چې څه لرل او په کلونو کلونو یې د لاس ته راوړلو لپاره کار او زحمت ایستلی و، ټول ترې پاتې و، او د معلم رضا په کور کې یې د نا امیدۍ شپې سبا کولې، نن شپه هم د تېرو اخترونو په څېر ټول یو ځای ناست و، خو هغه پخوانۍ خوشحالي د دوی په منځ کې نه وه، دوی پخپل منځ کې خبرې کولې، د پخوانیو اخترونو د خاطرو په یادولو سره یې خپل زړونه خوشحالول، هغوی نه د اختر لپاره میوه لرله، نه هم ښه خواړه.
د ټولو پنځو کورنیو واړه او لویان په همدې د سیوري په کوټه کې ناست وو، دغه کوټه د نورو کوټو په پرتله یوڅه په امن او د توغندي لګېدو له مخې چپه وه، لویان یوې خوا ته ناست و، ښځې ځانته د یوه لوی چای جوش په شا و خوا راټول وې چې کله کله به د دغو دواړو ډلو مجلس شریک شو خو د کوټې په کونج کې په فلزي زانګو کې پراته ماشوم ژړا به د دوی خبرې پرې کړې، مور به یې راواخیست لږ شېبه وروسته به بیرته ویده شو.
خو پلار یې مصطفی نن تر نورو ورځو پر هغه ډېر تپېده، که به هغه ویده هم و، دی به یې زانګو ته ورغئ، مخ به یې پرې لوڅ کړ، د ماشوم په ټنډه به یې لاس کېښود خپلې مېرمنې ته به یې مخ را واړاوو:
_فوزیې نن انشاالله سمسور ښه دی، سبا به نور درمل هم ورته راوړم.
د کوټې په بل ګوټ کې ماشومانو خپل مجلس جوړ کړی و، دوی سبا ورځې ته هوسېدل او د نورو شپو پر خلاف نن تر ډېره ویښ پاتې شوي وو، دوی هم خپل منځ کې خبرې کولې او د سبا ورځې په باب سره ګډ وو:
_سبا به مېله چېرې وي؟

بل به په ملنډه وویل:

_چېرې به وې دلته زمونږ په سړه کوټه کې.

_څوک د راکټو له ویرې دباندې وتی شي؟

_دا څنګه اختر دی، نوي کالي نه لرو، لاسونه مو هم نه دي. . .

په دې شېبه کې له یوه ناڅاپي درز سره په کوټه کې تور دود جوړ شو، په یوه شېبه کې هر څه په بله واوښتل، په کوټه کې پر ناستو خلګو خښتې، لرګي او د سمنټو ټوټې امبار شوې یوازې زګېروی اورېدل کېده، د کوټې په کونج کې د ماشوم د ژړا غږ غورږونه کڼول، ماشوم لکه چې د توغندي په ډز سره وېرېدلی او له خوبه پاڅېدلی وي پرله پسې یې ژړل د کوټې په کونج کې د ماشوم په زانګو دوو لرګیو ځانته وړه کوټه جوړه کړې وه او ماشوم روغ رمټ پاتې و، په ژړا کې یې خوله یوې بلې خواته ګرځوله، مور یې غوښته، خو مور یې د کوټې په منځ کې تر خښتو او لرګیو لاندې په وینو کې لت پت پرته وه، هغې چې یو لاس یې راکټ وړی و کوښښ کاوو چې ځان خپل یوازیني زوی سمسور ته ورسوي، کوچني هماغسې ژړل، مور یې جوړ لاس پر تېر کړ او د خښتو له منځ نه یې راویوست، په هماغه لاس یې پخپله سینه پروت لرګی ټېله کړ، د لرګي بل سر په دېوال کې بند و، په نا امیدي یې د کوټې د کونج خواته وکتل په زګېروي یې وویل:

_مصطفی !

خو چا ځواب ور نه کړ، کمزوری زګېروی یې تر غوږ شو ماشوم له ژړا شین و، دې بیا کوښښ وکړ چې ځان زانګو ته ورسوي خو نه یې شوای کولای چې ځان د خښتو او لرګیو له امبار څخه راوباسي، له سترګو یې د نا امیدي اوښکې او له بدن څخه یې وینې روانې وې، پخپلو خوږو نه پوهېده، پخپل ټول توان یې لرګي له سینې لېرې کړ، خو د لرګي له لېرې کېدو سره یې په سینه له پاسه نورې خښتې راتوی شوې، د خښتو له امباره څخه یو څه را ووتله، خو تر زانګو پورې لا واټن پاتې و، په سینه وښویېده، جوړ لاس یې د زانګو په لوري اوږد کړ، زانګو یې د ځان په لوري ورکش کړه، ماشوم

له زانګو څخه را ولوېده مور یې چیغه کړه:
_ا، ا، اخ، ب، بلا. . . دې. . . واخلم.
نوره هم په سینه وځکېده، ماشوم یې په غېږ کې ټینګ وینو، ماشوم په تې خوله کېښوده، لږ شېبه وروسته ماشوم بیا په ژړا پیل وکړ، دا ځل یې ژړا بل ډول وه.
داسې یې ژړل تا به ویل چې په شیدو کې خوړل شویو وینو په هر څه پوه کړ او د خپلې مور او پلار د مرګ منظره یې ورته ترسیم کړه، ماشوم هماغسې په لوړ اواز ژړل، مور یې د زوی د ژړا په څپو کې ساه ورکړه.
هلته د کوټې په بل ګوټ کې د شهیدو او ټپي ماشومانو په منځ کې زګېروی و، یوه ماشوم چې دواړه پښې یې د توغندي خوراک شوې وې او پر سینه یې خاورې او خښتې امبار وې زګېروی کاوو، زګیروی لږ لږ اورېدل کېده:
_د د دا. . . څه. . . څه ښکه. . . اخ. . . اختر. . . ؟؟؟

پکتیا،زرمت– اسلام خېل
16/12/1373